هر ارخیزه اسلامي معلوماتي خپلواکه مهالنۍ مجله

# اسلامي لارښوونه

مهالنۍ مجله شمېره (لمړۍ ګڼه)

اسلامي لارښوونه

Taleem-ul-islam@hotmail.com

۱۳۸۹ه ش دحمل میاشت/ربیع الثاني۱۴۳۱ه ق کال

تعلیم الاسلام ولسی راډیو

94.60fm کندهار


تعلیم الاسلام ولسي راډیو FM ۹۴.۶۰


داعلاناتولپاره ۰۷۸۶۷۸۶۴۳۴

په خپرونوکي دګډون لپاره ۰۷۰۷۰۰۵۷۵۷

دعمومي معلوماتولپاره ۰۷۰۳۰۵۰۷۰۰

Email:Fm94.60@gmail.com


سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com/

# اسلامي لاربنوونه

## تعليمي ، اصلاحي او خپلواکه مهالنۍ مجله

## دتعليم الاسلام ولسي راډيو داداري لخوا

لومړی کال لومړۍ ګڼه د ۱۳۸۹هـ ش دحمل (وري مياشت) چي ۱٤۳۱هـ ق دربيع الثاني دمياشتي سره سمون خوري

| شمېره | سرليک | ليکوال \ ژباړن | مخ |
|---|---|---|---|


۱ : سرليکنه.........................شيخ الحديث مولوي محمد عمر خطابي.......۱

۲:ټولنيز نظام ته اړتيا........................استاذ فريد الله احمدزی..............۳

۳:درسول الله ﷺ تعليمي تګ لاره............قاري مطيع الله ذهين.............۵

۴: په اسلام کي ديتيم حق ته درناوی.......مولوي سيد احمد صابر..............7

۵: دداعي (بلونکي)پيژندنه.............مولوي اخترمحمد صاحب.............8

٦ : اسلام او زموږ دنده..............  ....اسد الله بشارت...................10

۷: دحضرت علي کرم الله وجهه مزار ... ..مولوي محمد عمر خطابي............11

۸: دنوروز لمانځل.......................مولوي عبدالهادي حماد............13

۹: په پښتو ژبه تفسيرونه او ترجمې........سيد محبوب شاه ساجد............16

۱۰: دبيت الله الحرام اوسنۍ بڼه........  ....نويد احمد.....................19

۱۱: ستاسو پوښتني او دهغوی جوابونه: شيخ الحديث مولوي محمد عمر خطابي20

۱۲ : دتعليم الاسلام ولسي راډيو دخپرونو په هکله معلومات.................25



**دامتياز خښتن او مسؤل مدير**:
شيخ الحديث مولوي محمد عمر خطابي

**کتنپلاوی**

**مولوي عبدالهادي حماد**
**مولوي نور احمد صاحب**
**قاري مطيع الله ذهين**
**مولوي اختر محمد صاحب**
**استاذ فريد الله احمدزی**

**کمپيوټري چاري** : محمدنبي سلطاني

**ډيزاينر** : سمع الله عزيز


**دلاسته راوړلو پتې**

**۱:ميرويس قرطاسيه پلورنځی هرات بازار کندهار**
**۲:افغان کتاب پلورنځی احمدشاهي مارکيټ کندهار**
**۳ : کابل کتاب پلورنځی ارګ بازار کندهار**
**٤ : غرغښت کتاب پلورنځی خوست .**
**۵ : عبدالمجيد مومند کتاب پلورنځی مخابرات څلور لاري خالد ميلمستون ته نژدې جلال اباد .**
**٦:علامه حبيبي کتاب پلورنځی صدارت څلورلاري کابل**

**د يوې ګڼې بيه 25 بنځه ويشت افغانۍ**


پتــــه : دتعليم الاسلام ولسي راډيو داسټوډيم جنوب لوېديځ طرفته ، شپږمه ناحيه کندهار افغانستان .

| اړيکی : | ژوندی خپرونی | معلومات | اعلانات |
|---|---|---|---|
| | ۰۷۰۷۰۰۵۷۵۷ ، | ۰۷۰۳۰۵۰۷۰۰ ، | ۰۷۸٦۷۸٦۴۳۴ |


سرچينه:http://www.taleemulislam-radio.com/

## د تعلیم الاسلام ولسي راډیو سهارنۍ او ماښامنۍ خپروني

| (ساعتونه) | شنبه | یکشنبه | دوشنبه | سه‌شنبه | چهارشنبه |
|---|---|---|---|---|---|
| 6:30:AM | ورځنۍ وظیفه | ورځنۍ وظیفه | ورځنۍ وظیفه | ورځنۍ وظیفه | ورځنۍ وظیفه |
| 7:00:AM | ترجمه او تفسیر | ترجمه او تفسیر | ترجمه او تفسیر | ترجمه او تفسیر | ترجمه او تفسیر |
| 8:00:AM | نبوي احادیث | نبوي احادیث | نبوي احادیث | نبوي احادیث | نبوي احادیث |
| 9:00:AM | فقهي معلومات | فقهي معلومات | فقهي معلومات | فقهي معلومات | فقهي معلومات |
| 10:00:AM | د هر کور مدرسه | د هر کور مدرسه | د هر کور مدرسه | د هر کور مدرسه | د هر کور مدرسه |
| 12:۳0:PM | دلمونځو وختونه | دلمونځو وختونه | دلمونځو وختونه | دلمونځو وختونه | دلمونځو وختونه |
| 2:00:PM | د منبر آواز | د منبر آواز | د منبر آواز | د منبر آواز | د منبر آواز |
| 3:00:PM | علمي مباحثې | علمي مباحثې | علمي مباحثې | علمي مباحثې | علمي مباحثې |
| 4:00 PM | د اورېدونکو سره لیده کاته | د اورېدونکو سره لیده کاته | د اورېدونکو سره لیده کاته | د اورېدونکو سره لیده کاته | د اورېدونکو سره لیده کاته |
| دمازدیگر او ماښام ترمینځ | نبوي ملغلري | نبوي ملغلري | نبوي ملغلري | نبوي ملغلري | نبوي ملغلري |
| دماښام تر لمانځه وروسته | فقهي معلومات | فقهي معلومات | فقهي معلومات | فقهي معلومات | فقهي معلومات |
| د ماخستن تر آذان ورسته | منتخب احادیث | منتخب احادیث | منتخب احادیث | منتخب احادیث | منتخب احادیث |
| 8:۳۰:PM | ترجمه او تفسیر | ترجمه او تفسیر | ترجمه او تفسیر | ترجمه او تفسیر | ترجمه او تفسیر |
| 9:۳۰:PM | نبوي احادیث | نبوي احادیث | نبوي احادیث | نبوي احادیث | نبوي احادیث |

## د تعلیم الاسلام ولسي راډیو د پنجشنې د ورځې خپروني

| | |
|---|---|
| 6:30:AM | مختلف قراءتونه |
| 7:۰0:AM | اصلاحي بیان |
| 8:00:AM | شرعي پوښتني او د هغوی جوابونه |
| 9:00:AM | اصلاحي عام پیغامونه ( د تلیفون پر کرښه په ژوندۍ بڼه ) |
| 11:AM | ستاسو نظر او استدلال ( د تلیفون پر کرښه په ژوندۍ بڼه ) |
| 2:00:PM | نبوي سیرت |
| 3:00:PM | زه ولې مسلمان سوم؟ |
| 4:00 PM | نبوي ملغلري |
| د مازدیگر او ماښام ترمنځ | پیام منبر په دري ژبه |
| دماښام او ماخستن ترمنځ | د علم په سیالۍ کې د جایزو گټونکي ( د تلیفون پر کرښه په ژوندۍ بڼه ) |
| 8:۳۰:PM | دار القراء ( د تلیفون پر کرښه په ژوندۍ بڼه ) |
| 9:۴۵:PM | شرعي پوښتني او د هغوي جوابونه |

## د تعلیم الاسلام ولسي راډیو د جمعې د ورځې خپروني

| | |
|---|---|
| 6:30:AM | مختلف قراءتونه |
| 7:00:AM | زه ولې مسلمان سوم |
| 8:00:AM | شرعي پوښتني او د هغوی جوابونه |
| 9:00:AM | اصلاحي عام پیغامونه ( د تلیفون پر کرښه په ژوندۍ بڼه ) |
| 11:AM | دلیکونو ډالۍ |
| 2:00:PM | نبوي سیرت |
| 3:00:PM | اصلاحي بیان |
| 4:00 PM | نبوي ملغلري |
| د مازدیگر او ماښام ترمنځ | پیام منبر په دري ژبه |
| دماښام او ماخستن ترمنځ | تنکي فکرونه ( د تلیفون پر کرښه په ژوندۍ بڼه ) |
| 8:۳۰:PM | ستاسو نظر او استدلال ( د تلیفون پر کرښه په ژوندۍ بڼه ) |
| 9:۴۵:PM | شرعي پوښتني او د هغوی جوابونه |

# سر لیکنه

بسم الله الرحمن الرحیم

## ستاسو د ګډون په هیله

الحمدلله وکفی والصلوة والسلام علی نبیه المصطفی وعلی اله وصحبه الذین تمسکوا بالعروة الوثقی وبعد!

ډېردشکر ځای دئ چي د تعلیم الاسلام ولسي راډیو اداره وتوانېده چي د اسلامي میډیا(رسنۍ) په ډګر کي یو ګام بل هم پورته کړ، او د اسلامي معلوماتو دخپراوي په موخه د (اسلامي لاربنوونه) په نامه مهالنۍ مجله نشر ته وسپاري ، همدا مجله چي ستاسو په لاس کي ده ددې مهالنۍ مجلې لومړنۍ ګڼه ده . لکه څه ډول چي د انبیاؤ علیهم السلام مقام او منزلت تر نورو انسانانو ډېر لوړ دئ، همدا ډول هغه دنده تر نورو دندو عالي او لوړه ګڼل کیږي کومه چي رسولان او نبیان علیهم السلام د هغه لپاره رالېږل سوي دي. د رسولانو د بعثت (لېږدوني) اساسي اوبنسټیزه وظیفه او مسؤلیت دا و چي د الله جل جلاله و عبادت او بندګۍ ته نور انسانان دعوت کړي او هغوی ته د الله جل جلاله د عبادت طریقه وښیي.محمد صلی الله علیه وسلم خاتم النبیین دئ، تر ده صلی الله علیه وسلم وروسته بل هیڅ رسول او نبي نه مبعوث کیږي د دین د ابلاغ چي کومه دنده د مخکنیو امتونو د انبیاؤ علیهم السلام پر ذمه وه هغه دنده او مسؤلیت د محمدي امت و افرادو ته سپارل سوی دئ یعني ددې امت د افرادو دا مسؤلیت دئ چي د الله جل جلاله دین به ونورو انسانانو ته رسوي ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم و خپلو اصحابو کرامو رضي الله عنهم ته حکم کړی دئ چي د دین په مورد کي چي لږ او ډېر معلومات زما څخه در ته حاصل سي، هغه تر نورو ورسوئ ، همدا حکم د امت و ټولو کسانو ته دئ ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً ﴿رواه البخاري ﴾ژباړه : تاسو زما څخه که څه هم یو ایت وي، ونورو ته ورسوئ . بل داچي د اسلام د مقدس دین حفاظت او ساتنه یو و بل ته د دیني احکامو او معلوماتو په رسولو کیږي، که مسلمانان په دې کار کي معاذالله پاته راسي او کوم د دین پوهه او معلومات چي د یو چا سره وي هغه تر نورو و نه رسوي یعني ونورو ته یې ونه ښیي نو دا د دین پوهه او معلومات د هغوی په سینو کي په خاورو کي ورسره لاندي کیږي او په دې ډول به د وخت په تېرېدو سره دجهالت تیاره ورځ په ورځ خپرېږي، راتلونکي نسلونه به د اسلامي عقایدو، شرعي احکامو او نبوي اخلاقو څخه ناخبره پاته کیږي او د دین زیاته برخه به ضائع او له منځ څخه ځي .د اسلام د مقدس دین د احکامو رسوني او ابلاغ ته باید په ځانګړي ډول په نن عصر کي زیاته توجه او پام واړول سي ځکه د کفري عقایدو او تهذیبونو د اشاعت او خپرولو هلو ځلو ډېر شدت اخیستی دئ د نن عصرد ابلاغ او رسنیو ډول ، ډول مختلف تللي وسائل ـ کوم چي د نړۍ د ګوټ ګوټ څخه د تصویر، اواز اولیکني په ښکلو رنګونو او شکلونو کي و هر ملک ، هر ښار، هر کلي ، هر کور او هر فرد ته پیغامونه رسوي د میډیا دا مختلف تللي هر ډول وسائل د کفري عقایدو، کفري تهذیب او ورانوونکو افکارو د نشرولو لپاره په ډېره ځیرکتیا او ماهرانه ډولونو کار اخیستل کیږي . همدا میډیا او رسنۍ و طاغوتي قوتونو ته د کفر د تیارې د خپرولو لپاره تر ټولو مهمه او مؤثره وسیله ده نو ځکه کفري نړۍ میډیا ته تر هرشي زیات پام اړولی دئ او په دې ډګر کي تر حد تېر لګښتونه کوي او بې شمېره وګړي یې په کښې استخدام کړي دي . په تاسف سره باید ووایو چي د طاغوتي میډیا د طوفان د مخنیوي لپاره چي څه لازم او پکار دي او د مسلمانانو ایماني ، شرعي او اخلاقي وجیبه او مسؤلیت دئ هغه د پام څخه غورځول سوی دئ ، د نن عصر د میډیا د پر مخ تللو وسائلو څخه په ډېر لږ مقدار د اسلامي معلوماتو او دیني احکامو د ابلاغ او رسوني کار اخیستل کیږي. په معاصر وخت کي طاغوتي میډیا په پوره زور سره د ورانونکي طوفان په څېر د اسلام د مقدس دین د عقیدې، احکامو او اخلاقو ښکلې ماڼۍ ړنګوي او په ځانګړي ډول د ځواني طبقې پر ذهنونو او فکرونو باندي د کفري تهذیب او فاسدو عقایدو توري پردې غوړوي او د اسلام په هکله ډېر بد انځور او تصویر په ذهنونو کي ورنقش کوي نو په داسي حساسو شېبو کي پر علماؤ

کرامو ،داسلامي فکر په روڼ اندو او عامه مسلمانانو باندي لازمه ده چي نور ځانونه بې مسؤلیته و نه ګڼي او نه په لږ څه بسنه وکړي بلکي د طاغوتي میډیا د یرغل په وړاندي د همت لیځي را ونغاړي، نه ستړېدونکي هلي ځلي وکړي د ژبي او قلم د عظیمو نعمتونو څخه کار واخلي ، د حق په بیان مزین ښکلي اوازونه د صوتي او بړغیزو وسائلو د لاري تر هر کور او هر فرد پوري ورسوي او هم د قلم د عظیم نعمت څخه  په لیکنیز ډګر کي کار واخلي یعني مجلې او اخباري میډیا  په حقائقو مزین او ښکلي کړي او دغه مضامین تر لوستونکو پوري ورسوي. څو د همدې لاري د مسلمان ولس د ټولو افرادو یعني نارینوو ، ښځو، ځوانانو او کوچنیانو ذهنونه په اسلامي معلوماتو منور او روښانه کړي ، عام او خاص ټول وګړي په اسلامي معتقداتو ، شرعي احکامو او نبوي سپېڅلو اخلاقو خبر کړي. همدا مجله یعني اسلامي لارښوونه او هم د تعلیم الاسلام ولسي راډیو د همدغو مسؤلیتونو د پوره کولو په موخه پرانستل سوي دي څو علماء کرام او اسلامي مفکرین خپل د حق اوازونه او لیکلي اسلامي اصلاحي علمي مضامین د همدې لاري تر نورو ورسوي.د اسلامي لارښووني مجلې د کامیابۍ هیله به هلته نوره پیاوړې سي چي لیکوالان که علماء کرام وي او که اسلامي مفکرین وي د همکارۍ لاسونه د الهي حکم په اساس را اوږده کړي لکه چي څښتن تعالی جَلَّ جَلَالُهُ فرمایي: ﴿وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ۝٢﴾ ﴿سورة المائدة الایة (۲)﴾ ژباړه : او تاسو په ښوو کارونو او د ګناه څخه په ځان ساتنه کي یو د بل ملاتړ او مرسته کوئ او په ګناه او تېري کي یو د بل کومک مه کوئ ځکه چي یقیناً د الله جَلَّ جَلَالُهُ عذابونه ډېر سخت دي. د طاغوتي میډیا د شاته تمبولو لپاره په ژبه او قلم د اسلامي میډیا ملاتړ او کومک د هر عالم او د هر اسلامي مفکر لیکوال فریضه او وجیبه ده. الله جَلَّ جَلَالُهُ دي هر عالم او لیکوال ته توفیق ورکړي څو د عزیمت په موټې د حکمت په چالونو د رسنیو د مبارزې په عام ډګر کي باطل پر ګونډو ، نسکور او ملا یي خمه کړي او په ځانګړي ډول د اسلامي لارښووني مجلې اداري ته د عامه پوهاوي، د ټولني د اصلاح او سعادت د پاره علمي ښکلي ملغلري چي د نثر په وریښمینو تارونو کي په متناسب ډول اوډل سوي وي اهداء او ډالۍ کړي څو د همدې مجلې د لاري و عامه مسلمانانو ته تقدیم او وړاندي سي .عامه مسلمانان هم د طاغوتي او کفري میډیا په شاته تمبولو کي بي مسؤلیته نه دي او نه باید د حق او باطل د میډیا د مبارزې د ډګر څخه پر شا او په تېښته سي بلکي د خپل توان په اندازه د اسلام د مبین دین د تعلیماتو او ارزښتونو د خپراوي په موخه اسلامي میډیا د اقتصاد له اړخه پیاوړي او تقویه کړي .ښايي دلته هر لوستونکي ته یوه پوښتنه پیدا سي هغه دا چي : زه د څوني افغانیو په مصرف کولو کولای سم اسلامي میډیا تقویه او پیاوړي کړم څو زه هم د هغو مبارزو کسانو په ډله کي وشمېرل سم چي هغوی د کفري میډیا په وړاندي خپل مالونه سپر کوي او د اسلام د مقدس دین د سپېڅلو عقایدو ، اخلاقو او ارزښتونو څخه دفاع او ساتنه کوي ؟ ددې پوښتني په ځواب کي ویلای سو چي د اسلامي میډیا په جمله کي یوه همدا د اسلامي لارښووني مجله ده چي د لومړي ځل د پاره یې د طاغوتي میډیا په وړاندي لومړنۍ ګڼه نشر ته سپارل کیږي نو د اسلامي لارښووني مجلې د هري ګڼې په رانیولو به ان شاء الله تاسو هم د اسلامي میډیا د ملاتړو په جمله کي شمېرل کیږئ.که تاسو د اسلامي لارښووني مجلې هره خپرېدونکې ګڼه په دې نیت رانیسی چي د همدې مجلې اداره د اقتصادي پلوه وکولای سي بله ګڼه پسي چاپ او خپره کړي نو ښکاره خبره ده چي د اسلامي لارښووني مجلې چاپ کونکي همدا تاسو یاست همدا مجله ستاسو په پیسو چاپ او بیا نشر ته سپارل کیږي او دا مبلغ چي تاسو اسلامي لارښوونه مجله په چاپ کوی نه زرګوني دي او نه سل ګوني دي بلکي چي بیخي ډېري سي نو د میاشتي به دېرش افغانۍ سي یا په بل عبارت مونږ  ویلای سو چي که په هره تجارتخانه ، دوکان او دفتر کي د ورځي یوه یوه افغانۍ پس انداز کیږي او بیا د میاشتي په پوره کېدو سره په همدا دېرشو افغانیو د اسلامي لارښووني مجله رانیول کیږي نو تاسو باور وکړئ چي په همدا ډول معقولي تګ لاري او صحیح نیت به تاسو د اسلامي میډیا په خپرولو کي ډېره لویه ونډه لرلې وي .

**ستاسو د سعادت او کامیابۍ په هیله و السلام علیکم و رحمة الله و برکاته**

**مولوي محمد عمر خطابي**

# ټولنیز نظام ته اړتیا

## لیکوال : استاذ فرید الله احمدزی

الله جل جلاله انسان یو داسي مخلوق پیدا کړی چي په ختنه او طبعي ډول ټولنیز او اجتماعي دئ چي بې له ټولني او خپلو هم نوعو څخه یې د ژوندون انساني غوښتني نه پوره کیږي لکه چي ارسطو او د سیاست او اجتماع پوهني نور علماء پدې اړوند وایي: ﴿الإنسان مدني بالطبع﴾ یعني انسان په طبعي ډول ښاري او ټولنیز زیږیدلي دئ. اسلامي سیاست او همدارنګه ابن تیمیة رحمة الله علیه په خپل کتاب (الحسبه) کي لیکي: ( وكل بني آدم لا تتم مصلحتهم لا في الدنيا ولا في الآخرة إلا بالاجتماع والتعاون والتناصر ، فالتعاون على جلب منافعهم ، والتناصر لدفع مضارهم ، ولهذا يقال : الإنسان مدني بالطبع) یعني د انسانانو دنیوي او اخروي ګټي او مصالح به تر هغو پوره او تکمیل نشي تر څو دوی سره یو ځاي په ټولنه کي ګډ ژوند غوره نکړي چي د منافعو په لاس ته راوړنه کي له یو بل سره مرسته او د ضررونو په شا کیدنه کي د یوبل ملاتړ ونکړي ، همدا وجه ده چي وایي : انسان په طبعي ډول ښاري او ټولنیز دئ. (أن الاجتماع الانساني ضروري ويعبر الحكماء عن هذا بقولهم الانسان مدني بالطبع أي لا بدله من الاجتماع الذي هو المدينة) یعني د انسان د ژوند د تیروني لپاره د ټولني او ټولنیز ژوند شتون اړین دئ چي د دې اړتیا څخه پوهانو په دې کلیمو تعبیر کړي: انسان په طبعي ډول ښاري او ټولنیز دئ.ابن خلدون رحمة الله علیه لیکني ته دوام ورکوي او دا ضرورت داسي تحلیلوي: الله جل جلاله انسان داسي یو مخلوق پیدا کړی چي د غذا پرته ژوند نه سي تیرولای ، دهمدې فطرتي غوښتني باعث دئ چي د خپلي روزي لپاره په فطرتي ډول زیار باسي او د همدې فطرتي غوښتني د پوره کیدني لپاره ده ته قدرت او استعداد هم وربخښل سوی دئ خو د یوتن زیار په دې ډګر کي مؤثر ندئ د مثال په ډول که د انسان دیوې ورځي د غذا لپاره یو خوراک غنم فرض کړو دا غذا بې له میچن کیدو ، لندیدو او پخیدو څخه پرته نه برابریږي دغه درې واړه کارونه همکاري او خاصو الاتو ته ضرورت لري چي دغه مختلف الات هر یو بیل تن ته اړتیا لري چي داهنګر ، نجار او نانواي څخه عبارت دي دا چي یوه دانه غنم انسان خوري دا هم په لاس ته راوړنه کي ډیرو کارونو ته اړتیا لري چي عبارت دي له کرلو ، ریبلو غوبل چي دانې له وږي راباسي چي دا درې واړه کاره بیا په تکمیلیدو کي مختلفو الاتو یعني میچن ، لور او څپر ته اړتیا لري او د غه ګن الات بیا ګڼو کسبونو ته اړتیا لري ، او دا محال نا ممکنه ده چي پدې مجال کي دي دیوه کس زیار کافي وي بلکي پدې اړوند دده د جنس ډیرو بچیانو ته ضرورت دئ همدا رنګه هر یو د انسانانو څخه د ځان دفاع ته د نورو همجنسو دفاع ته ضرورت لري ځکه کله چي الله جل جلاله ټول حیوانات پیدا کړل بیا یې په هریو ددې حیواناتو کي په کافي اندازه له انسانانو څخه زیات قوت او توانایي پیدا کړه د مثال په ډول د آس قوت له انسان څخه ډیر دئ همدارنګه د خره ،غوایي ، زمري او فیل توان په څوچنده له انسان څخه زیات دئ . کله چي د تجاوز خاصه په حیواناتو کي په طبعي ډول موجوده وه الله جل جلاله هري نوعي ددې حیواناتو څخه د ځان د دفاع په خاطر ځانګړې عضوه ورکړه چي په هغې سره د تجاوز مخه ونیسي مګر انسان ته یې د دغي عضوي په ځاي عقل او لاس ورکړ چي په لاس د فکر په برکت سامان الات جوړ کړي د هغو ښکرلرونکو حیواناتو د ښکر پر ځاي د لیندۍ او غشو کمال ، د ځیرونکو حیواناتو او مرغانو د داړو او منګولو پرځای د توري کمال ورکړ سو دا چي د یوتن د انسانانو توان او قدرت د حیواناتو د توان سره ندي برابر بالخصوص له ځیرونکو حیواناتو سره انسان د دې حیواناتو له دفاع څخه په یوازي ډول عاجز دئ او د یوتن توانایي د اسلحو او سامان جوړولو کي هم کافي نده پدې اړوند د ټولني د ټولو افرادو سهم ضروري دئ، که په ټولنیز ژوند کي دغه ګډه همکاري موجوده نشي نه به قدرت نه به د ژوند وړ غذا او نه به د ځان د دفاع لپاره سلاح پیدا کړي نو په دې سره به د ځیرونکو خوراک او د نورو مصیبتونو ښکار شي او انساني نوعه به د ژوند له ساحي څخه له منځه لاړ شي ، کله چي د ټولني د افرادو ګډو مرستو انسان ته د خوراک قوت او د ځان د دفاع لپاره سلاح او وسایل تر لاسه کړه نو په دې سره د انسان د ژوند د بقاء او ساتني او د ځمکي د تعمیر غوښته تکمیل شوه. ابو نصر فارابي رحمة الله علیه فرمایي د حیوانانو ځیني ډولونه همیشه یو دبل څخه لیري او سیږي لکه ډیر بحري حیوانات او ځیني حیوانات یوائي د پیدا کیدو په وخت کي جدا وي لیکن پاتي ژوند یې ټول یو ځاي او اجتماعي وي ، ځیني نور حیوانات د عمر اکثره وخت سره یو ځاي تیروي لکه میږیان د شهدو مچۍ او هغه مرغان چي د سیلونو او ټولیو په څېر ګرځي . اسلامي سیاست . د انسان د کلمې

د لغوي څېړني تر عنوان لاندي ليکي: ﴿والانسان من الانواع التي لا يمكن ان يتم لها الضروري من امورها و لا تنال الافضل من احوالها الا باجتماع جماعات﴾ يعني انسان د حيواناتو له منځه له هغي جملې څخه دئ چي بې له ټولني او ټولنيز ژوند پرته يې ددنيا ضروري کارونه نه تکميليږي. الله جل جلاله خپل رسولان ټولنو ته د اصلاح لپاره استولي دي چي د ټولني دافرادو څخه د نفرت او د فطرت خلاف کارونه او عقايد لري کړي او پرځاي يې د اخوت، ميني او محبت روحيه راژوندۍ کړي او تر څو چي په ټولنو کي داصلاح امکان موجود و الله جل جلاله هغوی ته د ټولنو څخه د وتلو اجازه ورنه کړه. په ټولنه کي پاتي کېدنه لازمي ده او د ټولني څخه وتل جائز عمل نه دئ آن تردې چي د عبادت په نيت ټولنه پرېښودل او په يوه ګوښه ځای کي ژوند اختيارول هم رهبانيت دئ او رهبانيت په اسلام کي نشته ځکه الله جل جلاله فرمايي: ﴿وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ إِلَّا ابْتِغَاءَ رِضْوَانِ اللَّهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا .....﴾ ( الحديد – ۲۷ ). ترجمه: او رهبانيت يعني دخلکو څخه ؛ګوښه کيدل او په عبادت کي نهائي محنت او رياضت ګالل دوئ د خپلو ځانونو څخه اختيار کړئ ؤ مونږ رهبانيت پرض کړئ نه و خوليکن دوئ د الله جل جلاله د رضا دلاس ته راوړني لپاره غوره کړ او د هغه صحيح مراعت ئي ونه ساته. ټولنيز ژوند دزيات ضرورت له امله دئ ځکه د اسلامي امت علماؤ د نورو انسانانو سره ګډ ژوند لازم بللی دئ. اود تنها ژوند کولو اجازه ئي ترهغې پوري چي امکان د اصلاح موجوده وي نده ورکړې. همدا ډول په اسلام کي د مسلمانانو يو پر بل باندي دزياتو حقوقو شتون د ټولنيز ګډ ژوند غوښتنه کوي. په آخره کي په خلاصه ډول بايد ووايو چي انساني واقعيت يې هم تائيدوي هغه دا دئ چي انسان په دې ټولنه کي زېږېدلی دئ، په دې ټولنه کي را لوی شوي او د همدې ټولني له منځه د مشترک تعامل څخه د نيکمرغۍ او د پر مختګ پړاو يې طي کړی دئ او د همدې ټولنيز ګډ ژوند له برکته يې ستر تمدونونه د ځمکي په سر تر شا پرايښي دي او د افرادو ټولي فطرتي غوښتني د ټولني له ټولنيز ژوند له منځه تر لاسه کيږي او بي له ټولنيز ژوند انساني ضروريات نه پوره کيږي هغه به حيواني شکل ته اوړي او ژر به له منځه ځي نو ځکه يې اسلامي دين پيروانو ته د ټولنيز ژوند په سياسي بهير کي د تل لپاره په پاتي کېدو او له هغه څخه د وتلو نه شديدا منع کړی دئ: ﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَنْ خَرَجَ مِنْ الطَّاعَةِ وَفَارَقَ الْجَمَاعَةَ فَمَاتَ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً. صحيح مسلم﴾ د حديث شريف معنی: چا چي د امير له اطاعت څخه لاس واخيست او د مسلمانانو له ټولي څخه جلا شو، او بيا مړشي نو مړينه ئي د جاهليت په ډول مړينه ده.

## ورځنی ذکر

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَأَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَمَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ حُطَّتْ خَطَايَاهُ وَلَوْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ ( مسلم )

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي : ....او که څوک په ورځ کي سل ځلي: سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ ووايي نو د هغه ګناهونه به په ور ژول سي که څه هم يي ګناهونه د درياب د ځګونو په شان زيات وي

## علم زده کړئ نورو ته يې ورسوئ

کوم عالم چي علمي کتبه يې چاته نه رسيږي دپټې او د ورکي خزانې په څېر دئ ، هغه عالم دي محکمې ته راکش کړل سي چي کتبه يې چاته نه رسيږي . ﴿ علامه سيد جمال الدين افغاني ﴾

# د رسول الله ﷺ تعليمي تګلاره

ليکوال: قاري مطيع الله ذهين

درنو لوستونکو! تعليم د يوې ټولني اساسي رکن دئ او په مځکه کي د خلافت د پاته کېدولپاره شرط هم دئ،ځکه دا امکان نه لري چي ،الله ﷻ دي ويوه جاهل قوم ته چي دعلم دکاروان څخه پاته وي د مځکي د خلافت چاري وسپاري دلار وښانتيا په موخه ويلای سو چي ښوونه اوروزنه دانساني تاريخ په اوږدوکي تل دالهي رسالت اوپيغام يوه برخه ګرځيدلې ده همدا وجه ده چي دالهي لارښوونولومړی پيل د تعليم او روزني سره يوځاي سوی دئ لکه چي الله ﷻ فرمايي:﴿ اِقْرَأ بِاسْمِ رَبِّکَ الَّذِي خَلَقْ ط.....سورة العلق ، آيت ۱﴾ ژباړه: (اې پيغمبره!) د خپل هغه رب په نامه (قرآن) ولوله چي (مخلوق) يې پيدا کړی دئ.او بل سورة د قلم د پيغام سره نازل سوئ دئ لکه چي الله ﷻ فرمايلي دي:

﴿ نٓ ۚ وَٱلْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ ۝١ سورة ق،آيت۱﴾ ژباړه:په قلم باندي قسم دئ اوپه هغه څه چي پرشتې يې ليکي. ددې سره دوحيو يوبل پيغام دښووني اوروزني دهدف په ګوته کولو لپاره نازل سوئ دئ:﴿ وَرَبَّکَ فَکَبِّرْط . سورةالمدثر–آيت ۳ ﴾ ژباړه:او دخپل رب لويي بيان کړه.دوحيو دا درې واړه پيغامونه د تعليمي خوځښت آغاز او پيل و چي،هدف يې علم دواکمن ذات په نامه لوستل اود همدې واکمن ذات د عظمت اولويۍ اعلان و نوځکه د الله اکبر کوچنۍ جملې د قريشوپه لويانو کي لړزه راوستل که د قرآن ولوري ته نظر واچوو هلته دعلم دزده کړي لپاره پوره هڅونه سوې ده، بې علمي اوجهالت يې ناولتيااو بې لاري نومولې ده په دې اړه الله ﷻ فرمايي: ﴿ قُلَ هَل يَسَتَوِي الّذِينَ يَعَلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لاَيَعْلَمُوْنَ ط. سورة طه، آيت۱۱۴﴾ ژباړه:ووايه( دوی ته): ايا هغه کسان چي پوهيږي اوهغه کسان چي نه پوهيږي برابر دي ؟يعني کله هم برابرنه دي. علم هغه شي چي الله ﷻ خپل استازي رسول اکرم ﷺ ته دهغه دزيادت غو ښتلوامر کړی دئ لکه چي،فرمايي:﴿ قُلَ رَّبِّ زِدْنِيِ عِلْماَ ط سورت طه، آيت ۱۱۴﴾ ژباړه:ووايه چي،اې زماپروردګاره! وماته علم راډېر کړه.علم د انسان لپاره هغه زيوردئ چي،الله ﷻ يې په وسيله پر نورو مخلوقاتو باندي لوړوالۍ ورکړيدئ.نو پر همدې بنسټ رسول الله ﷺ همېشه په خپله روزنيزه او تعليمي تګلاره کي دې لوري ته ډېرپام درلود ،چي خپل اصحاب ؓ د علم په زيور سنګارکړي، د علم او اخلاقي مکارمو د حاصلو لو لپاره به يې هڅول، الهي اوامر يې په ډېره ژوره توګه ورته څرګندول،اوپه دې لاره کي يې موږته د تعليمې تګلاري خورا ارزښتمن او غني ميراث پر ځای پرې ايښي دئ.ولي نه ؟ستر پيغمبرخو په خپل ژوند کي ټول انسانيت لپاره ژوندي استاذ و اواسلام ته د خلګو د دعوت لپاره تر ټولو ښه ښوونکی اوهغه الهي رڼا وه چي، د قيامت تر ورځي پوري به بشري تياره ماحولونه په روښانه وي.پيغمبر ﷺ په خپله اغېزمنه اوحيرانونکې تعليمي تګلاري سره وکولاي سواي څو د خپلوصحابه کراموڅخه داسي معلمين جوړکړي چي د نړۍ داستاذانوپه حيث ورڅخه کار واخيستل سو. غواړم په دې ځاي کي درسول الله ﷺ داغېزمني تګلاري څو مهم ټکي رانقل کړم چې په دې حساس وخت کي زموږ تعليم هم ددې تګلاري په مټ اغېزمن تمامسي.

لومړی: خبروتکرار: اما م بخاري ؒ دانس ؓ څخه روايت کوي چي کله به رسول الله ﷺ خبري کولې نو خپلي خبري به يې درې ځله تکرارولې تر څو اورېدونکي ورڅخه پوهه اومفهوم تر لاسه کړي دا تګلاره داورېدنکو لپاره هغه غوره اواسانه طريقه وه چي، کولای يې سوای د مطلب مفهوم په ډېره اسانه توګه تر لاسه کړي نو ځکه به رسول الله ﷺ د خپلي تعليمي تګلاري په درشل کي ودې لوري ته ډېر پام کاوه . دوهم: د خبرو کولو په وخت کې سکته کول. رسول الله ﷺ به په کراره کراره خبري کولې د دې لپاره چي،اورېدونکي يې په خبرو ښه پوه سي تر څو په نقلولو او په فهمولو کي يې د تحريف او تير وتني سره مخامخ نسي د هري جملې په منځ کي به يې بېلوالي راوستی او داورېدونکو د پوهاوي په برخه کي دومره حريص و چي، ترڅو به يې هغوی ښه نه وه پوه کړي خپلي خبري به يې څو ځله ورسره تکرارولې. دريم:د متلونو اومثالونو څخه کار اخيستل: د مطلبونو په رسولو کي متلونه اومثالونه رغنده ونډه لري ځکه نو په قرانکريم کي ډېر مثالونه ذکر سوي دي اود دغه لړۍ مطلب په لاندي مبارک آيت کي بيان سوی دئ :﴿وَتِلْکَ الاَمْثَالُ نَضْرِبُها لِلنّاسِ وَمايَعْقِلُهَا اِلاّ الْعلِمُوْنَ سورة العنکبوت آية ۴۳﴾ ژباړه:او دغه وړمثالونه موږ د

خلګو د پوهولو لپاره بیانوو او په دې باندي هغه څوک پوهیږي چې د پوهي خاوندان وي.نو د دې کبله وینو چي،پیغمبر ﷺ هم دخپلو خبروپه وخت کي دمتلونو او مثالونو څخه ډېر کاراخیستی دائکه چي،داتګلاره خلګو ته محسوسه او واقیعت ته ډېره نژدې ده. څلورم: دسوال اوجواب له روش اوطریقي څخه کار اخیستل: دائکه چي دا روش د سوال کونکي او جواب ورکونکي ترمنځ قوي ارتباط ټینګوي د جواب ورکوونکي ذهن جواب ته خلاصوي اود انسان په مغزوکي د ذهني پرمختګ لپاره لېوالتیا منځ ته راوړي ، نوپه دې اساس رسول الله ﷺ داصحابو ؓ د تعلیم لپاره په بېلا بیلو بڼو سوالونه کول چي،اکثره سوالونه به یې د متوجه کولو لپاره په کار اچول چي موږ یې په یوه بېلګه بسنه کوو.دابوهریره ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: آیا وتاسو ته یوداسي کار درونه ښیم چي د هغه په سرته رسولو سره خداي ﷻ ستاسو څخه خطاوي محوه کوي اودحسناتو درجې مو په لوړوي اصحابو ؓ وویل ولي نه یا رسول الله ﷺ! رسول الله ﷺ وفرمایل د یخنۍ په وخت کي په سمه توګه اودس تازه کول د مسجد ولورې ته ډېر ګامونه اخیستل، د یوه لمانځه تر ادا کولو وروسته د بل لمانځه د اداکولو انتظار کول. داهغه عملونه دي چي،ستاسو خطاوي له منځه وړي. پنځم:د مناسب وخت څخه ګټه پورته کول:ډېروختونه به راتلل چي،رسول الله ﷺ به دخپلو اصحابو ؓ د تعلیم لپاره ورڅخه ګټه اخیستل ځکه چي په مناسب وخت کي پر اورېدنکوخبره ډېره اغېزه کوي . جابربن عبدالله ؓ وایي : رسول الله ﷺ د اصحابو ؓ په ملتیا د بازار څخه تېرېدئ چي پریومردار سوي لنډ غوږې سېرلی یې سترګي ولګېدې، د غوږو څخه یې ونیوي اوپورته یې کړی،بیایې وفرمایل: آیا دغه سېرلي څوک په یوه درهم اخلي ؟اصحابو ؓ وویل :یا ،موږ یې په هیڅ شي باندي نه اخلو په دې بې ارزښته مردارڅه وکړو؟ پیغمبر ﷺ وفرمایل: آیاداخوښوئ چي،داستاسومال سي؟ اصحابو ؓ وویل:په الله ﷻقسم کوو که ژوندی هم واي،لابه موږ هغه د غوږو د عیب په سبب نه وای اخیستئ.پیغمبر ﷺ وفرمایل:قسم په الله ﷻ چې دنیاد الله ﷻ په نزد د دې مردار سوي سېرلي څخه چي ستاسو په وړاندي بې ارزښته دئ هم زیاته بې ارزښته ده .شپږم: وپوښتني ته په پوښتنه سره جواب ورکول، کله کله به رسول الله ﷺ هغه پوښتني ته چي دده مبارک څخه به سوې وه په پوښتنه سره جواب ورکاوه، دبیلګي په ډول : د حضرت انس ؓ څخه روایت دئ چي یو کوچي د پیغمبر ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي اې د الله ﷻ رسوله! قیامت څه وخت دئ؟ رسول الله ﷺ په جواب کي ورته وویل : تاته تعجب کوم د قیامت لپاره دي څه تیاري نیولې ده؟ کوچي ورته وویل: د الله ﷻ اود هغه د رسول ﷺ سره مینه لرم ددې پرته مي بله هیڅ تیاري نه ده نیولې. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ته به په آخرت کي د هغه چا سره یې چي مینه ورسره لرې. په پورتني مبارک حدیث کي وینو چي، صحرایي د قیامت په باره کي پوښتنه کوي ، چي په جواب یې یوازي الله تعالي ﷻ ښه پوهیږي، خو رسول الله ﷺ د بلي پوښتني په کولو سره د هغه فکر ویوې لوړي مسئلې ته راواړوئ چي، هغه سړي ورته ډېر اړ و ، یعني د هغې ورځي لپاره د صالح عمل لاسته راوړنه چي خلګ په کښي د خداي ﷻ حضور ته ورتلونکي دي. اووم: د تشریحي وسایلو څخه کار اخیستل: پیغمبر ﷺ به کله کله د خطو او کرښو په رسمولو سره مهمي او اساسي خبري تشریح کولې ترڅومطلب داورېدونکو وذهن ته ښه نژدې سي. عبدالله بن مسعود ؓ روایت کوي چي،رسول الله ﷺ د مځکي پرمخ یو مستقیم خط رسم کړ ، وروسته یې وفرمایل (داد الله ﷻ لا ره ده) وروسته یې بیا دوه خطونه دراسته لوري څخه اودوه د چپه لوري څخه رسم کړل اووې فرمایل :دا د شیطان لاري دي بیا یې پرمستیم خط باندي لاس کېښودئ اودامبارک آیت یې تلاوت کړ. ﴿وَاَ نّ هّذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِمْاً فا تّبِعُوُهُ وَلاَ تَتّبِعُواالسُّبُلَ فَتَفَرّقَ بِکُمْ عَنْ سَبِیْلِهِ ط ذالِکُمْ وَ صّکُمْ بِهِ لَعَلّکُمْ تَتَقُوْن سورة الانعام آیت۱۵۳﴾ ژباړه:اوبېشکه دازمالاره ده نېغه نوتاسو پر روان سئ اوپر نورو لاروباندي مه ځئ چي،تاسو به دالله ﷻ د لاري څخه بېل کړي داهغه خبره ده چي الله ﷻ یې تاسو ته توصیه کړې ده چي ښایي تاسو پرهېزګاره و اوسئ .اتم : دلاس اوګوتو په وسیله تمثیل(مثال ورکول): رسول الله ﷺ به چي یوه مهمه موضوع بیانول نو دلاس اوګوتو د تمثیل څخه به یې هم کله کاراخیستی. ابوموسي اشعري ؓ روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل:مومنان په خپل منځ کي د یوې ودانۍ حیثیت لري چي یواو بل سره تقویه کوي په دې وخت کي رسول الله ﷺ د خپلو مبارکولاسونو ګوتي یو په بل کي سره ورکړې. نهم:په عملي ډول تعلیم ورکول: پیغمبر ﷺ د خپلواصحابو ؓ د تعلیم لپاره ډېر وختونه دعملي تګلاري څخه کار اخیستی. یوسړي درسول الله ﷺ حضورته راغلئ او وې ویل :اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! څه ډول اودس

وکړم؟ رسول الله ﷺ امروکړئ چي،داوبویولوښی راوړئ.لوښی راوړل سو نو یې خپل دواړه لاسونه درې ځلي پرېولل اوپه بشپړ ډول یې اودس وکړ ، بیایې وفرمایل: که کوم سړی پر دې باندي کوم شي ورډ یرکړي اویایې ورڅخه کم کړي تېری اوظلم به یې کړی وي .د علي بن ابي طالب رضي الله عنه څخه روایت دئ چي، رسول الله ﷺ وریښم په خپل راسته لاس کي اوسره زریې په چپه لاس کي ونیول بیا یې وفرمایل:دا دواړه شیان زما دامت پر نارینوو باندي حرام دي.لنډه داچي، رسول الله ﷺ د خپلو اصحابو رضي الله عنهم د تعلیم په وخت کي د ډېرو نرمو جملو د ریښتینوداستانو،کیسواو نورو ګټوروتعلیمي چاروڅخه کار اخیستئ چي پورتنۍ یې څو بیلګي وې.پاته دي نه وي چي د ټولو درنو لوستنکو څخه ددوی د یوه خواخوږي ورور په حیث په ډېر احترام هیله کوم چي،د خپلو ښوونیزو بوختیاوو پرمهال درسول الله ﷺ د تعلیمي تګلارو څخه پوره کار واخلي چي ،نتیجه به یې ان شاءالله اغیزمنه اوبریالۍ وي.

## په اسلام کي دیتیم حق ته درناوی

**لیکوال مولوي صالح محمد صابر**

دا یو روښانه او ربښتینی حقیقت دئ چي د نن ورځي ماشومان د ټولني د ماڼۍ هغه خامي خښتي دي چي وروسته به ټولنه ترې جوړیږي، ځکه د نن ورځي ماشومان د سبا ورځي مړونه دي نو موږ په پوره توان او ډاډ سره ویلاي سو چي څومره ددوی ښووني او روزني ته توجه او پاملرنه کیږي، هغومره به راتلونکې ټولنه دعزت،پت او بریا خاونده وي او څومره چي د دوی د ښووني او روزني په هکله توجه او پاملرنه کمه وي هغومره به ټولنه له ستونزو او خلل سره لاس او ګرېوان وي. یتیم هم یو ماشوم دئ چي پلار یې له لاسه ورکړی دئ او بې سرپرسته پاته سوی دئ، کوم سرپرست نه لري چي روزنه یې وکړي، څوک نه لري چي له میني او محبت څخه په ډک زړه ورته وګوري او له عطفې اومهرپانۍ څخه په ډکه روحیه یې ځان ته ور وبولي او... هو! یتیم د خپل ګران پلار د مرګ له کبله دغه ټول شیان له لاسه ورکړي، د غم او پرېشانۍ په حالت کي شپې او ورځي تېروي او دی تر هر چا لطف، مهربانۍ او شفقت ته اړتیا لري. تر څو چي لاس ورکړل سي، د خوارۍ له کندي څخه یې را و باسي او د نورو ماشومانو په څېر یې د ارام او ډاډه ژوند په ګدۍ کښېنوي. یتیم تر هر چا زیات یو حاکم او مهربانه قانون او یوې غوره لارښووني ته اړتیا لري تر څو چي نفس او مال یې وژغوري، او یو داسي فعاله او بریالي ژوند ته یې چمتو کړي چي د نورو خلکو د اوږو بار نه سي، نه د خپل شرارت زهر یې نور خلګ اغېزمن کړي. د دغو ټولو وجوهاتو او لاملونو له کبله د اسلام مقدس دین تعلیماتو او لارښوونو د یتیم په هکله خپله پاملرنه او اهتمام ښودلي او خلګ یې دې ته رابللي چي د یتیم تربیت، ښووني او روزني ته پاملرنه وکړي، ځان اومال یې د زیان او اتلاف څخه وژغوري. د اسلام مقدس دین چي کله رسول اکرم ﷺ ته هغه عنایت او مهرباني ورپیادوي چي کله دی یتیم و او په همدې حالت کي یې الله جل جلاله په ښه شان روزنه وکړه، نو بیا د دغه احسان د یادوني وروسته د یتیم په هکله داسي لارښوونه ورته کوي: فَأَمَّا ٱلۡيَتِيمَ فَلَا تَقۡهَرۡ ﴿٩﴾ ﴿سورة الضحي﴾ ژباړه: (نو ته بیا پر یتیم مه قهریږه). یعني د پلار په شان یې اوسه.همدارنګه په یو بل ځای کي قرآنکریم د یتیمانو شړنه او هغوي ته په سپکه سترګه کتنه د ایمان د نه لرلو نښه ښودلې ده او داسي یې فرمایلي دي: ﴿أَرَأَيتَ الَّذِي يكَذِّبُ بِا الدِّين ط فَذَالِکَ الذِي يدُعُّ الْيَتِيمِ. سورة الماعون آية٢﴾ ژباړه: آیا ته هغه څوک پېژنې چي د قیامت ورځ دروغ ګڼي باور پرې نه لري، همدا هغه څوک دئ چي یتیم د خپله حقه شړي ، ترټي یې او په بېرحمۍ، غټ زړه توب او بد اخلاقۍ معامله ورسره کوي، حق یې نه ورکوي او مالونه یې په ناحقه توګه خوري. همدا ډول یې بل ځای فرمایلي دي: وَلَا تَقۡرَبُواْ مَالَ ٱلۡيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ حَتَّىٰ يَبۡلُغَ أَشُدَّهُۥ ﴿سورة الانعام– آية١٥٢﴾

ژباړه:د یتیم مال ته مه ورنژدې کیږئ البته ترڅوچي هغوی دعقلمندۍ پوختیا ته رسیږي په ګټمنه طریقه ئي عالي پالنه کولای سی. د یتیمانو په هکله د اسلام دا لارښووني په داسي توګه هم نه دي چي خلک د دوی په چارو کي له مطلق تصرف څخه منع کوي او یا یتیم په داسي حالت کي پرېږدي چي د یوا زیتوب او تنهایۍ له امله د مسکنت او کمترۍ احساس وکړي، بلکي د یتیم په

هكله خپلو پيروانو ته دستوراو قانون په لاس وركوي. د اسلام مقدس دين په دغه حكم سره خپل پيروان و پوهول چي د يتيمانو مالونه له خپلو مالونو سره په عدل او مصلحانه توګه ګډول او يا بل مشروع تصرف په كښي كول او له دې لاري د هغوي ښېګڼه غوښتل د انساني او اسلامي ورورولۍ او رحم له مقتضيانو او غوښتنو څخه دي. په قرآنكريم كي همداسي نور آيتونه هم سته چي د يتيم په هكله د ترحم او شفقت ترغيب اوهڅونه كوي او له خپلو پيروانو څخه دا غواړي چي يتيم بايد ورور او قريب وګڼل سي، دمال او نفس ساتنه يې وسي، ښووني او روزني ته يې پاملرنه او د ژوند تكليفونو ته يوازي پرې نه ښودل سي. د قرآني آيتونو تر څنګ ډېر نبوي احاديث هم راغلي دي چي د يتيم د متكفل لوړي درجې ښيي او دهغه كور په دروازه كي د غوره والي او ښه توب بيرغ اوچتوي چي په هغه كي د يتيم پالنه په ښه ډول سره كيږي، لكه چي وايي: ﴿خير بيت في المسلمين بيت فيه يتيم يحسن اليه و شر بيت في المسلمين بيت فيه يتيم يساء اليه...ابن ماجه ﴾ ژباړه: په مسلمانانو كي ښه كور هغه دئ چي په هغه كي يو يتيم وي او د هغه سره ښه چلند كيږي او بد كور هغه دئ چي په هغه كي يتيم وي او بد چلند ورسره كيږي . همدارنګه هغه مور ته د وياړ او افتخار پوړنی ور پر سر كوي چي خاوند يې مړ سوي او د منصب او ښكلا خاونده وي، يعني د خپلي ښكلا لكبله ئي دنكاح رغبت كونكي وي خوبيا هم داخپلي غوښتني د خپلو يتيمانو د روزني لپاره تر پښو لاندي كړي او خپل ځان د هغوی خدمت او پالني ته وقف كړي. څنګه چي د يتيم په هكله ګڼ شمېر حديثونه سته، خو موږ دلته د مطلب د لنډوني له كبله په مشت نمونه خروار بسنه كوو. درنو لوستونكو! داوه د اسلامي ټولني د مانۍ د جوړښت او سمون لپاره د خښتو د برابرولو په هكله د اسلام د پاک دين اهتمام او پاملرنه چي د ټولني ددوام او د بقا په لاره كي يې مثبته اغېزه يو رښتينی حقيقت دئ. هو! زه په يقين سره ويلاي سم چي د اسلام دين چي كوم اهتمام او غور ديتيم بلكي دهرماشوم په هكله لري، كه په كومه ټولنه او يا جامعه كي په واقعي توګه پلی سي نو ټولنه او .جامعه حتي ټول ملت به په يوه سالمه اودامن ډ كه فضا كي له سوكاله ژوند څخه برخمن سي او كه چيري په دې هكله د اسلام قانون تر شا پرېښودل سي او د هر ماشوم په ځانګړي ډول د يتيم په هكله توجه او پاملرنه ونه سي نو دغه ماشومان به په راتلونكي كي د ټولني هغه عناصر جوړيږي چي له امله به يې ټولنه او ملت له زوال سره مخ كيږي چي په دې توګه به د ټولني مانۍ ړنګه سي د ناورين تغر به خپور سي .د ګران وطن د دردمن ولس د ماشومانو او په ځانګړي ډول د بېشمېره يتيمانو د ښې پالني په هيله.

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته





**لومړني داعي:** لومړنی ستر شخصيت چي داسلام دعوت يې خلګو ته تبليغ كړی دئ زموږ ګران پيغمبر حضرت محمد ﷺ دئ چي الله پاک دهغه په هكله فرمايلي دي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ۝٤٥ وَدَاعِيًا إِلَى ٱللَّهِ بِإِذۡنِهِۦ وَسِرَاجٗا مُّنِيرٗا .سورة الاحزاب، الاية ۴۵ ﴾ ژباړه: اې پيغمبره! خامخا موږ ته استولی يې شاهدي اداكوونكی،زېری وركوونكی، وېره ونكی ، د الله جل جلاله په حكم سره دهغه لور ته بلونكی او د يوه روښانه څراغ په حيث مو استولی يې.

قرآنكريم په ډېروځايونو كي د دعوت په هكله دامر په صيغه سره دوام استمرار اونه پريښودل څوڅو ځله تكراوي لكه چي فرمايي: ﴿ وَٱدۡعُ إِلَىٰ رَبِّكَۖ إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدٗى مُّسۡتَقِيمٖ الحج-الاية ۶۷﴾ ژباړه: د خپل رب په لوري دعوت كوه خامخا ته پرمستقيمه لاره يې همدارنګه فرمايي: ﴿ وَٱدۡعُ إِلَىٰ رَبِّكَۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ۝٨٧ القصص الاية۸۷﴾ ژباړه: دخپل رب ولوري ته بلنه كوه او هيڅكله د مشركانو څخه مه كيږه. په بل ځای راغلي دي : ﴿ قُلۡ إِنَّمَآ أُمِرۡتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱللَّهَ وَلَآ أُشۡرِكَ بِهِۦٓۚ إِلَيۡهِ أَدۡعُواْ وَإِلَيۡهِ مَـَٔابِ ۝٣٦ سورة الرعد الاية ٣٦﴾ .
ژباړه: ووايه يقيناً ماته امرسوی دئ چي دالله جل جلاله عبادت وكړم اود هغه سره شريک ونه نيسم د ده ولوري ته بلنه كوم اودهمدغه ذات ولوري ته بيا زما ورتګ دئ نبي ﷺ هم تر څوچي دالله جل جلاله سره

ملاقي کېدئ او د دې فانی دنیاسره یې په مخه ښه کول د دعوت وظیفه یې پرمخ وړله اویوه شېبه هم آرام نه کښېنستې. دالله جل جلاله ولوري ته بلنه د ټولو انبیآؤ علیهم السلام رسالت او وظیفه ده الله جل جلاله دوئ په همدې لوړرسالت سره انتخاب کړي دي هغوی هم له کومې استثنا څخه پرته خپل امتونه پر الله جل جلاله باندي دایمان راوړلواود یوه الله پاک دعبادت کولوولورته دعوت کړي دي. قرآنکریم د نوح علیه السلام څخه داسي حکایت کوي: ﴿ لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَقَالَ يَـٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـٰهٍ غَيْرُهُۥٓ .. سورة اعراف الاية ۵۹ ﴾ ژباړه: یقیناً موږنوح علیه السلام وخپل قوم ته لیږلی و نوح علیه السلام وویل: اې زما قومه! دالله جل جلاله عبادت وکړئ تاسوبیله الله جل جلاله څخه بل معبود نلرئ. د هود علیه السلام په هکله فرمايي: ﴿ وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ۗ قَالَ يَـٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـٰهٍ غَيْرُهُۥٓ سورة الهود،الاية ۵۰ ﴾ ژباړه: وعادیانوته مو ددوی قومي ورورهود علیه السلام ولیږه هغه ورته وویل: اې زما قومه ! دالله جل جلاله عبادت کوئ تاسي بیله الله جل جلاله څخه بل معبود نلری. د صالح علیه السلام څخه داسي یادونه کوي: ﴿ وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَـٰلِحًا ۚ قَالَ يَـٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـٰهٍ غَيْرُهُۥ سورة الاعراف ،آية ۷۳ ﴾ ژباړه: و ثمودیانو ته مو د هغوئ قومي ورورصالح علیه السلام ولیږه، هغه وویل اې زما قومه! دالله جل جلاله عبادت کوئ. تاسي دهغه پرته بل معبود نلری. دشعیب علیه السلام په هکله فرمايي: ﴿ وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۗ قَالَ يَـٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـٰهٍ غَيْرُهُۥ سورة الاعراف ، آية ۸۵ ﴾ ژباړه: دمدین قوم ته مو د هغوئ قومي ورورشعیب علیه السلام ولیږه هغه وویل : اې زماقومه ! د الله جل جلاله عبادت کوئ دالله جل جلاله څخه ماسوا بل معبود نلرئ په همدې ترتیب سره دالله جل جلاله ټولو پیغمبرانود یوه الله جل جلاله وعبادت کولو اود باطلو معبودانو څخه د بیزاره کېدو دعوت کړی دئ: قرآنکریم په دې هکله داسې وايي :﴿ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِى كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱجْتَنِبُوا۟ ٱلطَّـٰغُوتَ ۖ سورة النحل -الاية ۳۶ ﴾ ژباړه: په تحقیق سره مو ږ هر ولس ته پیغمبر لیږلی دئ چي دالله جل جلاله عبادت وکړئ او د طاغوت څخه ځانونه وساتئ. د دې مبارک آیت څخه معلومیږي چې انبیاء علیهم السلام د الله جل جلاله د دین داعیان وو چي الله جل جلاله دوی د تبلیغ اورسالت دستري وظیفې اود خلکو دلاربنووني لپاره غوره کړي وه. د اسلامي امت ټول وګړي هم دالله جل جلاله ودین ته په دعوت او بلنه ورکولو مکلف دي . کوم آیاتونه چي پیغمبر صلی الله علیه وسلم دالله جل جلاله ولوري ته په دعوت امر کوي په هغه کي ټول مسلمانان هم شامل دي ځکه په قرآن کریم کې ډېر آیاتونه دا ډول دي چې مخاطب یې محمد وي خو حکم یې عام وي دهمدې جملې څخه د دعوت آیاتونه دي نو ځکه ودې اسلامي امت ته د دعوت او بلني پډې ستري دندي ویاړ وربخښل سویدی څرنګه چي په دې مورد کي د قرآنکریم ښکاره آیاتونه هم نازل سوي دي. الله جل جلاله فرمايي: ﴿ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ سورة آل عمران ، الاية ۱۱ ﴾ ژباړه: تاسوبهترین امت یاست چي د خلکو د لاربنووني لپاره را استول سوي یاست ،په ښو کارونو امر کوئ اود ناوړوکارونو څخه منعه کوئ. پورتنی مبارک آیت دوې معناوي افاده کوي یو ددې امت خیریت اوبرتري، اوبل داچې دا برتري دامر بالمعروف اونهي عن المنکرد وظیفې په سرته رسولو سره ده، لومړی شی چي په امر بالمعروف اونهي عن المنکر کي شاملیږي توحید یعني دیوه الله جل جلاله الوهیت اوخدائي منلوته دعوت اود شرک د ټولو ډولونو څخه لیري والی دئ قرآنکریم دالله جل جلاله لوري ته بلنه د مومنانو صفت اوځانګړتیا بللې ده په خلاف د منافقانو چي هغوی بیاد الله جل جلاله له لاري څخه منع کوي او د الله جل جلاله پرته خلک نورو شیانو ته بولي، قرآنکریم د منافقانو په هکله فرمايي: ﴿ ٱلْمُنَـٰفِقُونَ وَٱلْمُنَـٰفِقَـٰتُ بَعْضُهُم مِّنۢ بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمَعْرُوفِ سورة التوبه،الاية ۶۷ ﴾ ژباړه: منافق نارینه اومنافقي ښځي ځیني له دوی څخه د ځینو نوروسره په کردار اودین کي متحد اوسره ورته دي په بدی سره امر کوي اودښو کاروڅخه خلک منع کوي، وروسته بیا فرمايي: ﴿ وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَـٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ ۝٧١ سورة التوبه،الاية ۷۱ ﴾ ژباړه: نارینه مومنان اومومناني ښځي ځیني د دوئ د ځینو نورو دوستان دي،په ښو کارونو سره امر کوي اوله بدوکارونوڅخه منع کوي امام قرطبي رحمه الله علیه ددې آیت په تفسیر کې وايي : امر بالمعروف اونهي عن المنکر د مومنانواو منافقانو تر منځ یو جلا کېدونکې نښه ټاکل سوې ده او دا آیت پردې دلالت کوي چي امر باالمعروف اونهي عن لمنکر د مومنانو له ځانګړتیاووڅخه دئ چي د هغه ډېره لوړه درجه یې د اسلام ولوري ته دعوت کول دي برسیره پردې باید ووایو چې

الله جل جلاله اسلامي امت په هغه سره ستایلی دئ کوم چي خپل پیغمبر ﷺ یې په هغه سره ستایلی دئ: ﴿ یَأۡمُرُهُم بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَیَنۡهَىٰهُمۡ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَیُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّیِّبَٰتِ وَیُحَرِّمُ عَلَیۡهِمُ ٱلۡخَبَٰٓئِثَ سورةالاعراف،الایة ۱۵۷﴾ ژباړه :دوی په ښو کارونو سره امر کوي له ناوړو کارونو څخه یې منع کوي پاک اوطبیب شان دوی ته حلالوي اوناپاکه شان ور باندي حراموي

# اسلام او زموږ دنده



لیکوال : اسدالله بشارت

بسم الله الرحمن الرحیم

درنو لوستونکو! الله جل جلاله چي انسا ن ته انساني شرف ورکړی دئ نو مسئولیتونه یې هم د نورو مخلوقاتو په پرتله ډېر زیات دي. انسانان دوخت په تیریدوسره پردوو ډلو ویشل سوي دي ، چي یوه ټولی یې د الهي امورو په منلو او عملي کولو سره مسلمانان غاړه ایښودونکي دي او بله ټولی یې د دغو امورو د نه قبلوني له امله کفار او سرکښان سوي دي. دا چي کفار دالهي احکامو پروا نه کوي او ځانونه هم د هغو په پیروي مکلف نه بولي، ځکه نو زما راتلونکي خبري یوازي د مسلمانانو دندې احاطه کوي: په یوه ټولنه کي د هر مسلمان ډېره عظیمه او ستره دنده امر بالمعروف او نهي عن المنکر ده یعني په نیکو کارونو امر کول اودبدو کارونو څخه منعه کول لکه چي الله جل جلاله فرمایي: ﴿وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٌ یَدۡعُونَ إِلَى ٱلۡخَیۡرِ وَیَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَیَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ سورت النساء، ۱۰۴ آیت ﴾
ژباړه: ستاسو څخه یوه ډله باید خیر ته بلنه ورکوي په ښو خلګ امر کوي او دبدو څخه یې منع کوي او همدا کسان کامیاب او مقصد ته رسېدونکي دي. دالله جل جلاله ددغه هدایت په نظر کي نیولو سره یوه ډله باید حتمي دا کار انجام کړي او دا الهي امر ته لبیک ووایي. دغه خلک په ځانګړي ډول عالمان او لوستي اشخاص دي، چي باید د ړندو د لاس عصاء سي او دغه مقدسه دنده په بصیرت او ښه ځراکت پر مخ یوسي او د ویاړ ځای دا دئ، چي په اوسني پېر کي مو علماء په دې کار کي ډېر بریالي سوي دي، خو له بده مرغه هغه طبقه، چي څه نا څه لوستې ده او د عصري زده کړو په ګېڼه یې ځانونه پسوللي دي، و دې ستري دندې ته ډېر ښه وفادار نه دي پاته سوي او ځینو خو بېخي ځانونه داسي را جوړ کړي دي، چي کټ مټ د پردي کلتور او عنعناتو انعکاس ور کوونکي دي. د نورو د اصلاح فکر خو څه کوې، د خپل ځان د اصلاح فکر لا ور سره نه سته. دا بې پروایي به خدای جل جلاله مه کړه، که داسي ادامه و مومي، ډېري بدي پایلي ولري او جبران به یې ډېر ستونزمن وي.د ټولني هغه قشر، چي نالوستي دي د خپلو ځانو لپاره تعلیم یافته ځوانان راهنما ټاکي او غواړي، چي کشران یې د هغو پر پله روان سي او دا کار په دې هیله کوي، چي الله جل جلاله او د هغه رسول ﷺ ور څخه راضي سي. هغوی، خو داسي فکر کوي، چي ټوله تعلیم یافته اشخاص په ټوله معنا د قرآنکریم پیروي کوي. نو قرآنکریم خو په ډېر ټینګار سره وایي او په لاندنیو ټکو سره حکم کوي :﴿ یَٰٓأَیُّهَا ٱلَّذِینَ ءَامَنُوٓاْ أَطِیعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِیعُواْ ٱلرَّسُولَ . سورة النسآء ،الایة ۵۹﴾ ژباړه : اې ایمان والاوو! دالله جل جلاله اود هغه درسول ﷺ پیروي وکړئ . نو دالهي فرمان مطابق موږ په دې مکلف یو چي نبوي سنت پرځان پلي کړو ، خپل کړه وړه ، اخلاق ، سلوک ، نزاکت ، لباس ، قیافه او هر څه مو پر نبوي کردار باندي عیار کړو ، هغه یو داسي رسول ﷺ و چي الله جل جلاله رحمة للعلمین بللی دئ ، هغه یو بې ساري عالم،ستر داعي و چي آن وکافرانو ته هم په صدق
،امانت،ښواخلاقو،اوعالي صفاتو منل سوی شخصیت وو .هر ځوان چي په عصري زده کړو سمبال وي او ځان په دې کار مسؤل نه ګڼي زموږ ورته دا توصیه ده چي پراسلامي شعائرو دي ځان عیار کړي پردی کلتور ته دي خدمت نه کوي ، نبوي سنت دي تر پښو نه لاندي کوي هره دنده چي لري خپله افغاني ، اسلامي قیافه دي نه اړوي ، د خپل تېر متمدن تاریخ په کتو سره دي د خپلو نیکونو شملې پر مځکه نه اچوي ، ځانونه دي په هره ټولنه کي مؤمن وښیي او دا دي د ځان لپاره افتخار وبولي چي یوه دنده د اسلام په پوښ کي ترسره کوي او نور وګړي ورڅخه په اسلامي روحیه کي دښوهیلو او ارزوګانوطمعه ولري د پورتنیو کړنو څخه برخلاف که کوم ځوان نبوي سنت تر پښولاندي کړي او اسلامي کلتور ته سپکاوی کوي نو په ټولنه کي به په تدریجي ډول سره منفوراو د کرکي وړ وګرځي او هغه عزت چي خدای پاک دعلم اوپوهي په سبب ورکړئ دئ ورڅخه واخیستل سي او د ټولني پاته وګړي به مو کورټ د خپلو اولادونو

لپاره عصري زده کړه لازمه ونه بولي او دې کار ته به د نفرت په سترګه وګوري په پای کي یوځل بیا وایم چي ټول علوم که اسماني دي او که انساني ، ځانته ـ ځانته ډېر د عزت وړ بلل سوي دي د دې علم ستر درناوی ته په درناوي وګورو او د اسلامیت په چوکاټ کي خپلي دندې ترسره کړو اود نبوي سنتو په درناوي د خلګو سره چال چلند وکړو .

# د حضرت علي کرم الله وجهه مزار

## لیکوال مولوي محمد عمر خطابي

د رسول الله ﷺ لومړی خلیفه حضرت ابوبکر الصدیق ؓ او دوهم خلیفه حضرت عمر الفارق ؓ دواړه په سپیڅلي روضه کي د رسول الله ﷺ و څنګ ته ښخ دي او د رسول الله ﷺ دریم خلیفه حضرت عثمان بن عفان ؓ بیا په جنة البقیع کي یعني مسجد نبوي ته څیرمه هدیره کي ښخ دی پوښتنه دا ده چي د رسول الله ﷺ څلورم خلیفه او ځای ناستی حضرت علي بن ابي طالب ؓ څه وخت او په کوم ځای کي او د چا لخوا په شهادت ورسیده او په کوم ځای کي خاورو ته سپارل سوی دی ؟ ددې پوښتني صحیح ځواب به د اسلام د معتمد تاریخ (البدایة و النهایة) څخه درته وړاندي کړو . د حضرت عثمان ؓ د شهادت وروسته حضرت علي ؓ خلیفه و ټاکل سو حضرت علي ؓ د خپل خلافت په مده کي د خوارجو د فتنې د مخنیوي د پاره د هغوی په مقابله کي په ډېرو جنګي محاذونو کي و جنګیدی خوارج د اهل الباطل داسي ډله ده چي پاک رسول ﷺ یي لا مخته خبر ورکړی و چي دا ډله به را پیدا کیږي البته هغوی یي په نامه نه بلکي په صفاتو معرفي کړي دي. رسول الله ﷺ فرمایلي دي : لَئِنْ أَدْرَكْتُهُمْ لَأَقْتُلَنَّهُمْ قَتْلَ ثَمُودَ (متفق علیه ) و الله که د دوی زمانه پر ما راسي نو د ثمودیانو په شان به یي یو مخیز ووژم . حضرت علي ؓ ته لا مخته رسول الله ﷺ خبر ورکړی ؤ چي د همدې امت بد بخته او شقي یعني یو خوارجي به ستا ږیره ستا د سر په وینو رنګوي . حضرت علي ؓ چي د خپل خلافت په ورستیو ورځو کي د ډېرو کړاونو او تکلیفونو سره مخ سو نو ده به دا وینا ډېره کول : ما يحبس أشقاها، أي ما ينتظر ؟ ما له لا يقتل ؟ ددې امت بدبخته څه شي را ګرځولی دی ؟ یعني د څه شي انتظار باسي ؟ ولي مي نه وژني ؟ بیا به یي و خپلي ږیري او بیا ککرۍ ته اشاره وکړل وایي و الله دا به ددې یعني ږیره به مي د ککرۍ په وینو رنګول کیږي ابن جریر او د تاریخ او سیرت بي شمیره نور علماء وایي د خوارجو درې کسان یو عبدالرحمن بن عمرو چي په ابن ملجم الحمیري شهرت لري بل البرک بن عبد الله التمیمي او دریم عمرو بن بکر التمیمي را غونډ سول او د خپلو هم عقیدو د نهروان د خوارجانو یادونه یي وکړل کوم چي حضرت علي ؓ ور وژلي وه پر هغوی یي د خواخوږي لکبله وویل چي مونږ نو د هغو وروسته ژوند څه کوو ؟ راځئ چي د خپلو سرونو په سودا د ضلالت مخکښان و وژنوو د خپلو وړونو غچ واخلو او ښارونه د هغوی د شر څخه هوسا کړو د ضلالت مخکښان یي حضرت علي ، حضرت معاویه او حضرت عمرو بن العاص ؓ بلل همدا د هدایت ځلانده ستوري خوارجو د ضلالت مخکښان او رهبران بلل ابن ملجم وویل : د علي ابن أبي طالب ؓ وژل په ما اړه لري . برک وویل : د معاویة ؓ وژل په ما اړه لري . عمرو بن بکر وویل د عمرو بن العاص ؓ وژل په ما اړه لري . په خپل منځ کي یي ټینګه وعده او تعاهد وکړی چي هر یو به د خپل نفر څخه تر هغه مهاله نه شا ته کیږي چي یا یي هغه وژلی نه وي او یا دی پخپله وژل سوی نه وي ، د روژې اوه لسمه نیټه یي د همدغو جلیل القدرو صحابه کرامو ؓ د ترورولو او وژني د پاره وټاکل بیا هر یوه د خپل نفر و ښار ته ځان ورساوه او په هماغه ټاکلي ورځ هر یوه د خپل نفر په مخ کي کمین ونیاوه برک شام ته ځان ورساوه د روژې پر اوه لسمه چي معاویه ؓ د سهار لمانځه ته راووتی برک د توري واری پر وکړی څوک وایي په زهرو د لړلي خنجر واری یي پر وکړی معاویه ؓ یي په ورانه کي زخمي کړی ، برک خوارجي ونیول سو او بیا ووژل سو خو البته معاویه ؓ ژوندی پاته سو عمرو بن عاص ؓ ته بیا عمرو بن بکر خوارجي په همدا ورځ کمین نیولی ؤ خو عمرو بن عاص ؓ ته بیا په همدا ورځ تصادفي څه کار پیښ سو لمانځه ته را و نه وتی د هغه نائب خارجه بن ابي حبیبه د شرطې مشر یعني د امنیې قوماندان یي لمانځه ته په سهار کي را ووتی خوارجي حمله پر وکړه خارجه یي ووژی خوارجي چي ونیول سو نو ویي ویل چي ما عمرو بن العاص ؓ واڅه خو الله ﷻ را څخه وڅغوری پر خارجه مي د هغه

گمان وکړی . ابن ملجم و کوفې ته ولاړی دوه نور خوارجان وردان او شبیب یي هم و دې کار ته و هڅول هغوی یي هم د ځان ملګري کړل د روژې اولسمه شپه د جمعې شپه چي راغلل د کوم لوري څخه چي حضرت علي ﷜ مسجد ته راتلی په هماغه لاره کي کمین ورته ونیوی . حضرت علي﷜ را ووتی خلګ یي د سهار لمانځه ته راپورته کول الصلاة الصلاة اواز یي پر خلګو کاوه په همدا وخت کي شبیب ور وغورځیدی د توري واری یي پر حضرت علي ﷜ وکړی خو واری یي خطا سو بیا ابن ملجم د توري واوری پر وکړی پر ککری یي ووهی د حضرت علي﷜ د سر په وینو ږیره ورنګول سوه او دا د رسوال الله ﷺ هغه وړاند وینه وه چي مخته یي ورته کړي وه چي ددې امت بد بخته به ستا د ککرۍ په وینو ستا ږیره در رنګوي حضرت علي﷜ پر خلګو ږغ وکړی چي را ویي نیسئ ، وردان په تیښته سو خو د حضرموت یو نفر ځان پسي ورساوه هلته یي ووژی . شبیب په تیښته ځان خلاص کړی او ابن ملجم ژوندی ونیول سو . حضرت علي﷜ جعده بن هبیرة د سهار په لمانځه کي مخته کړئ خلګو ته یي لمونځ ورکړئ او حضرت علي ﷜خپل کور ته زخمي یووړل سو ، ابن ملجم لاس تړلئ و حضرت علي ﷜ته راوستل سو حضرت علي﷜ ورته وویل : ای د الله ﷻ دښمنه ! ما ستا سره احسانونه نه وه کړي ؟ ابن ملجلم ورته وویل : هو کړي دي وه . حضرت علي﷜ ورته وویل : نو بیا څه شي دې ته و هڅولې چي داسي دي وکړه ، ابن ملجم ورته وویل : ما دا توره څلویښت سهار تیره کړې ده او د الله ﷻ څخه مي دا سوال کړی دی چي په دا توره بد ترین او شریر د خلګو ووژني . حضرت علي﷜ ورته وویل : همدا ته به په دا توره وژل کیږې او د الله د شریرو خلګو څخه همدا ته ما ته ښکاري . بیا حضرت علي﷜ وویل : که زه مړ سوم ابن ملجم ووژنئ او که ژوندی پاته سوم نو بیا زه ښه پوهیږم چي څه په وکړم . د حضرت علي﷜ چي د زکندن وخت رانژدې سو لا إله إلا الله ئي زیاته وویل او وایي چي اخیره وینا یي همدا وه فمن یعمل مثقال ذرة خیرا یره ومن یعمل مثقال ذرة شرا یره . د هجرت پر څلویښتم کال د روژې په میاشت کي یي د فاني دنیا څخه و اخرت ته کوچ وکړئ . د خلافت مده یي څلور کاله او .. خپلو زامنو حسن او حسین ﷠او خپل وراره عبد الله بن جعفر ﷜غسل ورکړی او د جنازې لمونځ یي حسن ﷜ورکړی . او بیا یي د خوارجانو د بیري لکبله چي هغوی یي جسد د قبر څخه را و نه باسي ، بي حرمتي یي و نه کړي د عراق د کوفې په دار الاماره کي یي دننه ښخ کړی او قبر یي په دې ډول هوار کړی چي چا ته یي درک معلوم نسي چي پر کوم ځای ښخ سوی دی په (البدایة و النهایة )کي د حضرت علي ﷜د وژل کیدو د بیان په پای کي وایي همدا یي د قبر په هکله هغه مشهوره وینا ده . او وایي : وما یعتقده کثیر من جهلة الروافض من أن قبره بمشهد النجف فلا دلیل علی ذلک ولا أصل له، ویقال إنما ذاک قبر المغیرة بن شعبة، حکاه الخطیب البغدادي عن .... مطر أنه قال: لو علمت الشیعة قبر هذا الذي یعظمونه بالنجف لرجموه بالحجارة، هذا قبر المغیرة بن شعبة. د رافضانو ډیر جهال چي دا عقیده لري چي د نجف مزار د حضرت علي قبر دی پر دې کوم اصل او دلیل نه لري بلکي داسي ویل کیږي چي د نجف مزار د مغیره بن شعبه ﷜دی او خطیب بغدادي په خپل سند د مطر وینا داسي را نقل کړي ده وایي : که اهل التشیع ته د نجف قبر کوم چي دوی یي تعظیم کوي معلوم وای چي دا د چا قبر دی نو په ډبرو به یي ویشتلی وای ، دا د نجف قبر د مغیرة بن شعبة ﷜دی. دا ځکه چي هغوی د مغیرة بن شعبة ﷜سره دښمنمي لري . په( البدایة و النهایة) کي وایي : ومن قال إنه حمل علی راحلته فذهبت به فلا یدري أین ذهب فقد أخطأ وتکلف مالا علم له به ولا یسیغه عقل ولا شرع . او څوک چي وایي : د حضرت علي جسد پر اوښ واخیستل سو او اوښ پر خپل مخ ولاړی چا ته هم نه معلومیږي چي اوښ د حضرت علي﷜ جسد چیري یووړی ددې خبري ویونکي یو مخ خطا دي داسي وینا کوي چي هیڅ علم نه پر لري او دا ډول کار نه عقل مني او نه شریعت د دا ډول کار اجازه ورکوي . لکه څنګه چي په (البدایة و النهایة) کي وایي خبره همداسي ده د پاک رسول ﷺ لمسیان حسن او حسین ﷠خو لا څه کوي چي هغوی به د خپل پلار علي کرم الله وجهه سره داسي کوي بلکي د نن عصر یو بي دینه او بي علمه ناپوه زوی چي د هیروینو معتاد لا هم وي هغه به لا هم د خپل پلار سره دا ډول بي حرمتي و نه کړي چي پلار یي مړ سي او دی یي پر حیوان وتړي او حیوان خپل سر ته ایله کړي پر کومه چي ځي هلته ولاړ سي ، مسلمان خو څه کوي کفار لا هم دا ډول کار د مړو د پاره مناسب نه ګڼي چي د انسان د مړه جسد ښخول دي حیوانانو ته وسپاري ځکه دا د انساني حرمت یو منافي او خلاف کار دی . دا ډول خرافات او د عقل او دین څخه خلاف ویناوي ددې د پاره خپرې سوي دي چي بیا هر درواغجن او جاهل په هر ملک او ښار کي چي وغواړي ډبري را کوټه کړي او د حضرت علي ﷜د مزار په نامه یي ونوموي لکه څه ډول چي اوس لیدل کیږي علي ﷜یو دی، خو مزارونه یي دلته هلته څو ځایونه جوړ سوي دي . ددې کار د عقلي ناوړتیا د پاره

همدومره کفایت کوي اوس به د شریعت له اړخه دد ې کار ناوړتیا څه تشریح کړو . انسانانو ته الله دا کرامت ورکړی دی چي څه وخت مړ سي په خاورو کي ښخ کړل سي د حیوانانو په شان د مځکي پر مخ دلته هلته و نه غورځول سي . او دا هغه انعام او احسان دی چي الله یي په قران کریم کي داسي یادونه کړي ده ثُمَّ السَّبِيلَ يَسَّرَهُ (20) ثُمَّ أَمَاتَهُ فَأَقْبَرَهُ (21) ژباړه : بیا الله د مور د نس څخه د راوتلو لار ورته اسانه کړه او بیا یي مړ کوي. نو د هغه د ښخولو حکم یي کړی دی اقبار د ښخولو حکم کولو ته وایي نو الله جل جلاله چي د انسان سره کوم احسانونه کړي دي د هغو د جملې یو عظیم احسان دا دی چي د مرگ وروسته دا انسان باید ښخ کړل سي څو په مځکه کي دننه یي عفت او پرده خوندي وساتل سي د حیوانانو په شان د مځکي پر مخ و نه غورځول سي چي د نورو حیوانانو خوراک وگرځي او د مځکي پر مخ پړسیدلی شوړیدلی د بد رنګي په حالت کي خوار او ذلیل دلته هلته ټوټه ټوټه بي عزته غورځولی وي او هغه د ژوندون د وخت ښکلا او ښه شکل او صورت یي په داسي یو حالت بدل سي چي بیا څوک ورته کتلای لا هم نسي . په قبر کي ښخیدل همدا د انسان د پاره عزت او کرامت دی نو ځکه اشرف المخلوقات محمد ﷺ هم د وفات څخه وروسته په خپله حجره کي په خاورو کي ښخ سوی دی . نو ایا د یو مسلمان ضمیر او وجدان دا خبره منلای سي چي حسن او حسین رضي الله عنهما دي د الله جل جلاله حکم او د الله جل جلاله د رسول ﷺ حکم پرې ایښی وي او د خپل پلار جسد دي اوښ ته حواله کړی وي ؟ معاذا الله کله هم داسي کیدلای نسي بلکي لکه څنګه چي وړاندي مو د علماؤ صحیح وینا را نقل کړه حضرت علي رضي الله عنه د عراق د کوفې په ښار کي د ابن ملجم خوارجي د توري د زخم څخه په شهادت ورسیدی او بیا هلته د کوفې په دارالاماره کي د خپلو صالحو اولادونو لخوا یي تجهیز او تکفین او د جنازې لمونځ ورکول سوی دی او هم هلته ته پر مسنون او مشروع ډول خاورو ته سپارل سوی دی خو د خوارجو د سخت عداوت او دښمني لکبله یي د قبر آثار او نښي له منځه یووړه څو خوارجو ته یي قبر معلوم نسي او بي حرمتي یي و نه کړي .

# د نوروز لمانځل

***مولوي عبد الهادي حماد***

***د نوروز تعریف :***

نوروز فارسي کلمة ده د نوی ورځي په معنی ده د مؤرخینو له آنده نوموړي کلمة د نوبهار څخه را اوښتي ده یعني په لومړیو کي نوبهار وو د وخت په تېریدو سره په نوروز باندي بدل سو .نوبهار : دغه لفظ په لومړیو کي د هغه آتشکدې نوم وو چي د زردشت اوذوالقرنین تر مړینی وروسته (**۵۸۳**) کاله ترمیلاد وړاندي په بلخ کي جوړه سوه او په نوبهار باندي ونومول سوه بیا د مجوسیانو لخوا د هغه ورځي لپار نوم کښیښودل سو چي دوی به د دغه آتشکدې د پیل د ورځي د درنښت په موخه لمانځل ، د اور عبادت به یې پکښې کاوه او اختر به یې ورته وایه یا په بل عبارت دوی و دغه ورځي ته پدې موخه ارزښت ورکاوه اولمانځل یې چي د اور د عبادت لومړی ورځ وه ، د دوی دغه لمانځني اوخوشالۍ به نهه ورځي وي اودوی به په دغه ورځو ټول هغه حرام شیان ځان ته حلال بلل چي د زردشت اوذوالقرنین په دین کي پردوی باندي حرام سوي وه .

**د نوروز تاریخ** : د نوروز د تاریخ په اړه اسلامي مؤرخین وایي : چي نوروز د اور عبادت کونکو اومجوسیان (**۴۸۳**) کاله ترمیلاد وړاندي پیل کړی چي هر کال به په آذربایجان ، ایران اوبلخ کي به د اور د عبادت کونکو لخوا لمانځل کیدی . [1]یادونه : د اور د عبادت لومړی بنسټ ایښودونکي سیسان نومیده چي په ایران کي د نیشاپور دحواق د سیمی وو . البته مؤرخین پدې خبره کي سره په یوه خوله نه دي چي اورپرستانو به دغه ورځ له څه وجي لمانځل ځیني

[1] الملل و النحل جلد (۱) صفحه (۲۳۸)

پدې آند دي چي اور پرستو دغه کار پدې موخه کاوه چي دغه ورځ د زردشت د زیږد ورځ ده اودوی به هم دده دزیږد ورځ لمانځل لکه نصرانیان چي هرکال د عیسی عليه السلام د زیږد ورځ دډسمبر د میاشتی پر پنځویشتمه نېټه د کرسمس په نامه لمانځي . ځیني بیا پدې آند دي چي د اورعبادت کونکو په دغه ورځ د اور عبادت پیل کړي دی په دې موخه دوی دغه ورځ لمانځي . ځیني بیا پدې آند دي چي پدغه ورځ د اور عبادت کونکو دلومړی ځل لپاره د نوبهار په آتشکده کي اور بل کړی اوسجدې کول یې ورته پیل کړه نو داچي د دوی دلویي آتشکدې د عبادت د پیل ورځ ده نو ځکه دوی په دغه اختر جوړول پیل کړه .لنډه داچي د نوروز ورځ زیات تاریخي قدامت لري ځکه نوبهار د (۴۸۳) قبل المسیح څخه تر (۲۶۰) قبل المسیح پوري د مجوسیانو عبادت ځای وو. خو د وخت په تېرېدو سره (۲۶۰) کاله ترمیلاد وړاندي د هندوستان یو بودایي پاچا امپراتور اشوک پرافغانستان باندي یرغل وکړی اوترخپل ګورت لاندي یې راوستی د نوبهار آتشکده یې بنده کړه اومتولیان یې ووژل . بیا نوموړی پاچا په لسګونو لوی اوکوچنی بتان په دغه آتشکده کي و د رول چي تر (۶۵۲ ـ م) پوري چي د (۳۲هـ)سره سمون لري همداسي د بودایانو عبادت ځای وو . [2]که څه هم اشوک پاچا دغه آتشکده په بت خانه بدله کړه خو بیا هم مجوسیان د پاچا په پټه دغه ورځ په خپلو کوچنیو اوپټو آتشکدو کي لمانځل او د اختر خوشالي به یې کول . کله چي په (۳۲ هـ ) کال کي په بلخ کي د اسلام سپېڅلی دین وځلیدی یعنی د حضرت عثمان رضي الله عنه په خلافت کي داحنف بن قیس تمیمی رضي الله عنه په لاس باندي بلخ فتحه سو او د اسلام پیاوړی مرکز یې ترې جوړ کړی نوموړي بت خانه یې خپله په هغه مسلمان سوو بودایانو ماته کړه چي نوی د اسلام د مبین دین په خوند پوه سوی وه د اسلام د دغه ځلا سره په حق پوهیدونکی افغاني ملت وټولو دینونو ته په ریښتیاني ډول سره شاوروګرځول او د اسلام سره

یې خپله مینه ښکاره کړه د نوروز ټولی لمانځنی یې ترشاکړي بلکی کومي ورځي چي اسلام سپېڅلی ورته ښودلي وي هم هغه یې لمانځلی آن تردې چي د (۳۲ هـ ) څخه تر (۴۴۷ هـ ) پوري په ټول افغانستان کي د نوروز ورځ نه چا پیژندل اونه یې لمانځل. کله چي په (۴۴۷ هـ ) کي داهل تشیعو نوموتی متعصب معزالدولة دیلمي واک ته ورسیدی یوخو یې د حسن حسین دمیاشتی لسمه یعنی دحسنینو دشهادت په ورځ د تورو کالو اغوستل ، د بازار بندیدل او د مارش په ډول دغه ورځ په توره ورځ لمانځل دود کړل . تاریخ الخلفآء په (۲۷۴) صفحه کي لیکی چي دیلمی وخطیبانو ته امر وکړی چي پر معاویة رضي الله عنه ، ابوبکر رضي الله عنه عمر رضي الله عنه اوعثمان رضي الله عنه باندي په خطبة کي لعنت ووایي (العیاذبالله) اوبل یې داکار وکړی چي یوه ودانۍ یې د عراق په نجف ښار کي د حضرت علي رضي الله عنه د مزار په نامه اویوه ودانۍ یې په بلخ کي د ده مبارک د زیارت په نامه جوړه کړه او د نوبهارورځ یې په نوروز بدله کړه او د دغه ورځي لمانځل یې بیا راژوندي کړل ، په زیارت کي یې د جنډې پورته کیدل دود کړل او دا خبره یې مشهوره کړل چي کوم ړوند سړی په دغه مراسمو کي ګډون وکړي بنا به سي بالاخرة دغه ورځ لمانځل عامه سوه په ټولو حکمتونو کي پرخپل ځای پاته سوه آن تردې چي د افغانستان د ملي ورځو څخه وګرځول سوه.

**په اسلام کي د نوروز منعه** : دکال لومړي ورځ چي په معاصروخت کښي په میلواو جشنونو لمانځل کیږي داپه حقیقت کښي لکه چي ومو ویل ذردشتیانواومجوسیانو د اسلام د سپینو فلوشو د ځلیدوڅخه وړاندي راپیل کړي ده کوم وخت چي داسلام سپېڅلي دین وځلیدی. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم داسي دوې ورځي ولیدی چي یوه دنوروز په نامه وه اوبله د مهرنجان په نامه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د دغه ورځو لمانځلو څخه خلګ منعه کړه او دوی ته یې وفرمایل چي الله جل جلاله د دغو ورځو په بدل کي تر دغو غوره ورځي درکړي چي یوه د لوی اختر ورځ ده اوبله د کوچنی اختر ورځ ده ځکه په یوه حدیث کي راځي

:عن انس رضي الله عنه قال : قدم رسول الله صلى الله عليه وسلم المدینة ولهم یومان یلعبون فیهما فقال : ماهذان الیومان قالوا کنا نلعب فیهما في الجاهلیة فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم قد

[2] الملل و النحل جلد (۱) صفحه (۲۳۸)

ابدلکم الله بهما خیرا منهما یوم الاضحی ویوم الفطر . [3]ژباړه : انس رضي الله عنه فرمايي : رسول الله ﷺ چي مدينې ته تشريف راوړی د مدينې خلکو په دوو ورځو کي خوشالۍ کولې رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : دا کومي ورځي دي ؟ دوی ورته وويل : موږ د جاهلية (کفر) په وخت کي په دغو ورځو کي خوشالۍ کولی رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : الله جل جلاله دغه ورځي په دوو داسي ورځو سره دربدلي کړي چي تردغو ورځو غوره دي يوه د لوی اختر ورځ ده اوبله د کوچني اختر ورځ ده .د پورتنی حديث په تشريح کي اشعة اللمعات ليکي چي دغه ورځي چي د مدينې خلکو لمانځلي يوه د نوروز ورځ وه اوبله د مهرجان ورځ وه .[4] همداړول ملا علي قاري (رحمة الله عليه) د دغو دوو ورځو په تعين کي فرمايي :وهما یوم النیروز والمهرجان .[5]ژباړه : هغه دوې ورځي (چي رسول الله ﷺ منعه کړي دي) يوه د نوروز ورځ ده اوبله د مهرجان ورځ ده . رسول الله ﷺ دداسي کارو څخه خپل امت منعه کړی دی چي د کفارو سره ورته والی پکښي وي لکه نوروز لمانځل ځکه رسول الله ﷺ فرمايي :من تشبه بقوم فهومنهم .ژباړه: څوک چي د نامسلمانوخلکوسره مشابهت کوي هغه دهغي ډلي څخه دی .نوروزلمانځل نه يوازي چي په ښکاره احاديثو سره يې منعه ثابته ده بلکي د ټولو اهل السنة والجامعة د علماؤ پرې اتفاق دی چي دغه ورځ لمانځل د کفارو دود وو او د کفارو دود راژوندی کول جائز نه دي الحمدلله افغاني ولس مسلمان ملت دی د تاريخ په اوږدو کي يې داسلام لپاره ويني توی کړی دی په هغه څه عمل کوي چي خپل سپيڅلی دين ورته لارښوونه کوي پورتنيو لارښوونو ته که ځير سو يو داسي حقيقت راته ښيي چي د نوروز د روا والي لپاره هيڅ لاره نه پکښي پيدا کيږي حاصل دا چي په دغه ورځ کي د دغه ورځي په نيت هيڅ عمل نه دی روا که څوک دا وايي چي موږ په دغه ورځ ميلې کوو پدې نيت يې نه کوو چي نوروز دی عمومي د خوشالۍ څرګندتيا کوو دداسي چا په اړه بايد وويل سي چي لومړی خو رسول الله ﷺ عمومي منعه کړی ده په نيت پوري يې نه ده تړلي اوزموږ د مذهب مخورو علماؤ هم مطلق د منعي پريکړه کړيده دهيڅ نيت لاره يې نه ده پکښي پري ايښي نو موږ که په نيت ځان خلاصوو دا به يوازي ځان ته حيله جوړول وي اوپه حيله جوړولو سره سړی د ګناه څخه نه خلاصيږي . دوهمه خبره دا ده چي که فرضا منعه رانسي اوخلګ دغه ورځ لمانځي نو په څشي يې لمانځي؟ عبادت کوي ؟ اوکه عبث کارونه کوي ؟ که عبادت کوي نو ولي يې په داسي ورځ نه کوي چي الله جل جلاله په هغه ورځ څو چنده ثواب ورکړی لکه د عرفات ورځ ، د عاشورآء ورځ او داسي نوري ورځي .[6]اوکه عبث کارونه کوي لکه سروزونه اوريدل ورقي کول اوداسي نور دداسي چالپاره بيا د جواز پيدا کولو اړتيا نسته ځکه دغه په خپل ځان کي حرام دي .اللهم اعصمنا من جمیع المعصیات .

**پاملرنه** ! : بله خبره دا ده چي دا يو څرګند حقيقت دی چي نصارا تر دوه سوه کلنی جګړې وروسته پدې پوه وه چي مسلمانانو ته په نظامي جګړه باندي ماته ورکول شوني نه ده موږ ته پکاره ده چي يوه بله جګړه په کار واچو او د هغه جګړې په پايله کي دوی ته ماته ورکړو بالاخره دوی د ډيرو څيړنو وروسته فکرې جګړه تثبيت کړه او وې پتيل چي د همدې جګړې له لاري به مسلمانانو ته ماته ورکوی او دوی د دغه لاري تر ډيره بريده بريالی هم سوه دوی په دغه جګړه کي د سلاح څخه کار نه اخلي بلکي د شيطانت ، منځني اختلاف اچول او د مسلمانانو د خطاايستلو څخه کار اخلي دوی په پيل کي په خپل شيطانت سره دمسلمانانو خلافت لمنځه يو وړی ورپسي........ لنډه داچي يو کار يې دادی چي دوی په مسلمانانو کي داشی عام کړی دی چي تاسو به خپل دودونه راژوندي کوی ځکه دا ستاسو

( [3]) رواه ابوداؤد کذا في المشکوة جلد (١) صفحه (١٢٦)

( [4]) اشعة اللمعات علي المشکوة جلد (١) صفحه (٦٤٣)

( [5]) مرقاة جلد (٣) صفحه (٥٤٣)

( [6]) دټول کال دنيکو اوسپيڅلو ورځو معلومات لپاره دمؤلف دسپيڅلو ورځو په نامه کتاب مطالعه کړی .

تاريخ دی ، داستاسو کلچر دی اوداستاسو ادب دی داخو ښه خبره ده چي موږ خپل ادب ژوندی وساتو خو پوښتنه داده چي کوم ادب وساتو ؟اسلامي ادب وساتو ؟، تراسلام وړاندی ادب وساتو ؟ اوکه ددواړو حالاتو ادب وساتو ؟ که اسلامي ادب هدف وي نو نوروز لمانځل خو اسلامي ادب نه دی بلکي داسلام په راتګ سره منعه سو لکه په تاريخ کي چي مو وښودل. که تراسلام وړاندي ادب هدف وي نو تراسلام وړاندي خو موږ بتانو ته سجدې کولی بايد اوس يې هم وکړو ، تراسلام وړاندي خو موږ اسلام دين نه مانه بايد اوس يې هم نه ومنو او تراسلام وړاندي خو موږ د مسلمانانو سره جنګيدو بايد اوس هم ورسره وجنګيږو .که د دواړو حالاتو ادب هدف وي نو موږ ولی د کفري حالت ادب ژوندي کولو ته دومره ليواله يو او د اسلامي ادب پر ژوندي کولو باندي ټوله بنده خوله پاته يو دبيلګي په ډول زموږ مشرانو لکه ميرويس خان نيکه او احمد شاه ابدالي لنګوټې تړلي اوږيري يې لرلی ولي داسی څوک نه سو پيدا ؟چي داخبره وکړی چي لنګوټه او ږيره زموږ عنعنه اوکلچر دی بايد عملي يې کړو او وې لمانځو پرته لدې چي اسلامي ارزښت يې په نظر کي ونيسو ځکه داخو زموږ کلچر هم دی . نومعلومه سوه چي داکفري فکري جګړه ده غواړي چي لدې لاري يې داسلام څخه ليري کړي اوبيرته يې هغه کفري حالت ته ورټيل وهي اوبيا يې ترخپل ګورت لاندي راولي .
په فکري جګړې باندي دپوره پوهاوي لپاره دليکوال دفکري جګړي په نامه باندي وپښتو ته ژباړل سوی کتاب مطالعه کړی .

# په پښتوکي د قرانکريم تفسيرونه او ترجمې

ليکوال سيد محبوب شاه ساجد

پښتو ژبه کي دالله جل جلاله دسپېڅلي او تل پاتي کلام قران عظيم الشان دمعنا ژباړه اوتفسيرخورا لرغونی تاريخ لري،هغه داسي چي د پښتو ددينې عالمانو دخوا دشپږمي هجري پېړۍ څخه راپه دې خواپه پښتو ژبه کي دقرانکريم ترجمه پيل سوې ده، خو تردولسمي هجري پيړۍ پوري د قرآن مجيد بشپړه ترجمه او تفسير نه و ليکل سوي بلکي د يوه يادوو سورتونو ترجمه به سوې وه لکه د کهف ،يسين،يوسف اوداسي نورو سورتونو خوددې وروستـــه د قرانکريم پوره ترجمه اوتفسيرونه ليکل سوي دي چي په لنډه توګه يې لوستونکوته معرفي کووپــه لومړي ځل په پښتوکي دقرانکريم پوره اوبشپـــړه ترجمه په کال ۱۱۷۳ هـ ق کي مولانا رکن الدين رحمته الله عليه د تفسير افضليه په نام وکړه داپه پښتو ژبه کي لومړی تفسير و اوپه همدغه موده کي شاولي الله محدث دهلوي رحمته الله عليه د فتح الرحمن په نوم په دري ژبه د قرانکريم ترجمه وکړه چي پهدري ژبه کي هم دا لومړی تفسير اوترجمه ده تفسير بدرالمنير: دا پښتو تفسيرد پيښور په سيمه کي د مرحوم مولوي دوست محمد خټک په قلم په کال۱۲۷۵ هـ ق په پيښورۍ لهجه ليکل سوی دئ.تفسير يسير: داپښتو تفسيردمرحوم مولوي مراد علي رحمته الله عليه ننګرهاري په قلم په کال ۱۲۸۲ هـ ق کي ليکل سوی او په دوه ټوکه کي چاپ سوی دئ ترجمه يې جمله په جمله روانه اوعام فهمه ده. ظا هرالتفسير: داپښتو تفسيردمرحوم مولاناعبدالودودسرحدي رحمته الله عليه په قلم په کال ۱۳۳۲ هـ ق ليکل سوی دئ.تفسير افغاني :دا پښتو تفسير د مرحوم مولوي عبدالروف کاکړ رحمته الله عليه په قلم په کال ۱۳۳۲ هـ ق کي ليکل سوی دئ .تفسير تيسير:داپښتو تفسير دمرحوم قاضي عبداللطيف رحمته الله عليه په قلم په کال ۱۳۳۹ هـ ق کي ليکل سوی اوپه همدغه موده کي د نواب افضل پښتو تفسير د يا د وني وړدئ .
تفسيرحبيبي:داپښتو تفسيردمرحوم حبيب الرحمن رستمي رحمته الله عليه په قلم په کال ۱۳۷۶هـ ق کي په پيښورۍ لهجه ليکل سوی دئ .
تفسيرکشاف القرآ ن دا پښتو تفسيرد محترم حافظ محمد ادريس توروي په قلم په کال ۱۳۴۵ هـ ق کي په پيښورۍ لهجه ليکل سوی او په دوه ټوکه کي چاپ سوی دئ پښتو تفسير : دا تفسير د مرحوم شهيد مولوي عبدالوهاب کندهاري رحمته الله عليه په قلم په کال ۱۳۴۷هـ ق کي ليکل سوی دئ. پښتو ترجمه اوتفسير:داتفسيردمرحوم مولوي عبدالحق دارمنګي رحمته الله عليه په قلم په کال ۱۳۲۵ هـ ق کي په پيښورۍ لهجه ليکل سوی دئ. نوي پښتو تفسيرونه وترجمې:


عزيز التفا سير : دا په پښتو ژبه کي يو لوی شهکار اومهم تفسير دئ چي دمحترم مفسرالقرآن مولوي سلطان عزيز( عزيز) ننګرهاري صاحب لخوا په خوږه ،روانه عام فهمه اومعياري پښتو ليکل سوی دئ چي د ليکلو د پيل نيته يې د کال ۱۳۶۹ هـ ش څخه پيل او په کال ۱۴۲۶ هـ ق-۱۳۸۴ هـ ش کي پای ته رسېد لې ده چي ليکلو يې اوولس ۱۷ کاله وخت په برکي نيولي دی او په کال ۱۴۲۹ هـ ق – ۱۳۸۶هـ ش کي د لومړي ځل لپاره په د يارلس ۱۳ ټوکه کي چاپ سو داتفسير په پښتو ژبه کي تراوسه لوی اوجامع تفسير دئ چي لاندي ځانګړ تياوي يې د يادوني وړدي . د تفسير طريقه يې : د تفسير طريقه اوطرز يې دسلفوصالحينواو ثقه مفسرينو غوندي په لاندي ډول ده: الف:دقرآن کريم تفسير په قرآن کريم سره. ب :د قرآن کريم تفسير د پيغمبر ﷺ په احاديثو سره. ج : د قرآن کريم تفسير د صحابه کرامو رضي الله عنهم په اقوالواو ترهغو را لاندي د معتبرو اولويو مفسرينو په اقوالو سره ،خود دې تر څنګ يې دعربي لغت اوعربي ژبه او نور قوانين هم په تفسير کي د پامه نه دي غورځولي . د مشکلو آيتونو په تفسير کي يې د معتبرو مفسرينو تفسيرونه د حوالي سره را نقل کړي دي اوپه پاي کی يې ځينو او يا يوه تفسير ته ترجيح ورکړې ده ،خو اکثره يې د جمهورو رايي تــه ترجيح ورکړې ده.هـ :د متشابهاتو په هکله يې تګلاره د اصحابو رضي الله عنهم اوسلفو صالحينو ده. و: د اسرائلياتو څخه بيخي پاک دي. ز :فني اصطلاحات يې په ساده ژبه تشريح کړيدي . ح : د معاندينو اعتراضاتو ته يي غاښ ماتوونکي ځوابونه ويلي دي. ط: داهل سنت والجماعت دعقايدو يې کلــکه دفاع کړې ده. ک: د لوستونکي په ذهن کي چي کومي احتمالي پوښتني پــيداکيږي هغه يې جواب کړيدي.ل: د شان نزول او دسورتونو ترمنځ يــې د ارتباط يادونه کړيده. م : د لغاتو معنی،صرفي او نحوي تحليلونه يې کړيدي. ن : فقهي احکام، دفقهاووآراء او په پای کی يې د خپل حنفي مسلک فيصله ذکر کړې ده.س : د تفسير ليکلو په جريان کي د معتبرو او ثقه مأخذونو او مراجعو څخه استفاده کړې ده چــي شمېريې(۱۴۹)ته رسيږي.احسن الکلام تفسير:دا پښــتو تفسير د شيــخ الحديث مفسر مولانــا عبدالسلام (رستمي) په قلم د کال ۱۴۱۰ هـ ق څخه تر کال ۱۴۱۷ هـ ق په پيښوری لهجه ليکل سوی او په ۹ ټوکه کي چاپ سوی دئ.ترجمه اوتفسير يې روان ،آسان، اوعام فهمه دئ د اسرئلياتو څخه پاک دئ،د مشکلو آياتو نو پــه تفسيرکي يې د مفسرينو په اقوالو اوتفسيرونوکي يوه تفسيرته ترجيح ورکړېده اوپه دې وروستيو کــي مختصرسوی دئ اود دارالاســلام عربــي اداري دخوا په ۲ ټوکه کي په ښه ثقافت سره چاپ سوی .تفسير بخاري:د پښتو تفسير په(تفسيرالبخاري)سره نومول سوی دئ چي د مولانا سيد کرم شاه الحسيني پيښوري په قلم په کال ۱۳۷۵ هـ ق کي په پيښورۍ لهجه ليکل سوی دئ.تصوفي اشارې ئي هم دتفسير په هکله درا نقل سوو رواياتو او اقوالوپه څنګ کي ذکر کړي دي،داهل سنت والجماعت عقايدوتشريح ، د لغاتونو معنی، عقيدوی اوصوفيانه بحثونه اوځني اخلاقي مسائل يې ښه څېړلي دي.تفسيرلامِثال: دا پښتو تفسير دښاغلي عبدالله فاني پيښوري پــه قلم په پيښورۍ لهجه ليکل سوی دئ .تفسير يې آسانه او روان دئ اوپه څلور ټوکه کي چـــاپ سوی دئ .۲ :دنورو ژبو تفسيرونه چي په پښتو ژباړل سوي دي :کابلی تفسير : دا تفسير په کال ۱۳۲۳ هـ ش کي دهيواد دجيدو علماوو د يوه هيئت ترنظر لانـدي دشيخ الهند محمود حسن ديوبندي رحمة الله عليه د ترجمې اوتفسير او فوائد موضح الفرقان د شيخ الهند شبير احمد عثماني د يوبندي رحمة الله عليه د اردو ليکني څخه په پښتو او دري ژباړل سوی دئ اوپښتو يې په پنځه ټوکه کي په کابل کي چاپ سو پښتو يې معياري ،خوږه او روانه ده او د پښتو مختلفي لهجې يې هم په پام کي نيولي دي .او د دوهم ځل لپاره د سعودي عربستان د حکومت لخواپه دوه ټوکه کي په ښه ثقافت سره چاپ او ووېشل سو همدغه پورتني تفسير ته په کـال ۱۴۱۰ هـ ق کي دمفتي محمد شفع رحمة الله عليه دزوی محمد ولي رازي لخوا د موضوعاتو عنوانونه، اوفهرست ورکړل سو او د هغه څخه وروسته د ښاغلي عبدالمالک مهندي حقاني په قلم پښتو ژبي ته په پيښوری لهجه وژباړل سو په کال ۱۴۲۹ هـ ق کي په دوه ټوکه کي چاپ او په تفسير عثماني سره ونومول سو همدا تفسير په کال ۱۳۸۸ هـ ۱۹۶۷ م کي د ښاغلي تنسيم الحق کاکا خيل په قلم په پيښورۍ لهجه ژباړل سوي اوپه تفسير عثماني سره نومول سوۍ دی،او پرهمدغه تفسير دمولوي عبدالعزيز کاکړي کندهاري لخوا په پښتو ژبه کي څه زياتوني سوي دي او دالتفسير کندهاري په نامه په کال ۱۳۲۷هـ ش کي په دوه ټوکه کي چاپ سوی دئ. تفسير معارف القرآن: دا تفسيرد مولانامحمد شفيع رحمة الله عليه په قلم ليکل سوی دئ.په دې تفسيرکي د قرآن کريم د لنډي ترجمې اوتفسير په څنګ کي،دآيت شان نزول،

د سورتونو ترمنځ ارتباط ، د سورتونو فضائل ، فقــهي مسائل ، د آيت په هکله د مفسرينو اقوال ،نبــوي آحاديث ، د موضوعاتو عنوانونه ، د معترضينو د اعتراضاتو رد،دګمراه فرقو غندنه ،تصوف او نور مسائل ذکر سويدي دا تفسير هم د ښاغلــي ډاکتر قاضي مبارک،ښاغلي مولانا ګل برهــان سواتي،او مولانا سيف الحنان لخوا په ګډه په پېښورۍ لهجه پښتوته ژباړل سوی دئ او پــدې وروستيووختونوکي په کندهارۍ لهجې ته هـــم آوښتی دئ دا ډېر معتمـد اوثـــقه تفسير دئ.دقرآن کريم پښتو لنډي ترجمې: د قرآن کريم ټکي په ټکي روانه ترجمه : دا پښتو ترجمه د محترم مولوي جانبازسـر فراز په قلم په کال ۱۴۲۵ هـ ق کي ليکل ســوې ده او په کال ۱۳۸۵ هـ ش کي چاپ سوې ده تر جمــه يې په دووکرښو يو لفظي ټکي په ټکي او بلــه روانه ترجمه ده پښتو يې روانه،خوږه، اومعياري ده اومختلفي لهجې يې هم له پامه نه دي غورځولي د معتمدو تفسيرونو او ترجمو څخه يې استفاده کړېده او په ځينو ځاينو کي يې د ځينو کلمود ښه وضاحت لپاره لنډه حاشيه هم ليکلې ده د ترجمې په پای کي يې د ماخذونو فهرست موجـود دئ. روانه او اسانه ترجمه :دا پښتو ترجمه د محترم مولوي فاروق غلجي په قلم ليکل سوېده په کال ۱۳۸۶ هـ ش کي چـــاپ سوېده ترجمــه يې په يوه کرښه کي په روانه او معياري پښتو کي کړېده او په ترجمـــه کي يې د معتمدو تفسيرونواو ترجموڅخه استفاده کړېده .تعليم القرآن : دا پښتو ترجمه د مرحوم ډاکتر محمدديـن په قـلم ليکل سوېده او په کـال ۱۳۸۱ هـ ش کي چـــاپ سوېده ترجمه يې په دوو کرښو کي يوه لفظي اوبله روانه ده اولهجه يې پيښوري ده تعليم الفرقان:داپښتوترجمه دمحترم فروفيسرشفيق الرحمن په قلم په پيښورۍ لهجه ليکل سوېده او په کال ۱۳۸۷ هـ ش کي چاپ سوېده اوپر دې سربيره د قرآن کريم پښتو ترجمې او تفسيرونه په سي ډيانوکي هم سته چي دهغې جملې څخه په صوتي ښه د قران کريم د ترجمې او تفسير خپرونه کوم چي عام، اوخاص نارينه، اوښځينه،لوستي ،اونالوستي ،سهار، اوماښام ګټه ترې اخستلای سي دالقران الکريم خپرونه ده چي د تعليم الاسلام ولسي راډيو څخه په اوونۍ کي پنځه ورځي د شنبې څخه ترچهارشنبې دسهار په مهال په ژوندۍ ښه او دماښام په مهال په ثبتي ډول نشرته سپارل کيږي. اوس نو پر پښـــتنو ده چـي د دغو پښـــتو تفسيرونو او ترجمو څخه خپله ديني علمي تنـده ما ته کړي.

### انبياء عليهم السلام دټولو عيبونوڅخه پاک دي

الله جل جلاله چي د بشريت د سوکالۍ په موخه رسولان ليږل نو په ټوله بشريت کي يې هغه کسان د دې دندي لپاره وټاکل چي د شرافت،عزت او هري سپڅلتيا نمونې وي له دې امله انبياء عليهم السلام د ټولو هغه عيبونو څخه پاک دي چي طبيعت کرکه څني کوي که اخلاقي وي او که جسمي وي هيڅ الهي استازي په هيڅ ډول ګناه نه دئ مرتکب سوی او نه يې داسي جسمي عيب لرلی دئ چي طبيعت کرکه څني کوي لکه فس آبلج او داسي نور . ځيني خلک چي په ايوب عليه السلام پسي داسي ناروغي تړي چي بدن يې چينجيان کړي وه دا خبره هيڅ حقيقت نه لري بلکي دايوب عليه السلام ناروغي يوازي د بدن ضررو لکه چي په قرآنکريم کي هم يوازي د دغه شي يادونه سوېده﴿وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ﴾ يعني کله چي ايوب عليه السلام اواز وکړی چي اې الله! زه تکليفونو مسه کړی يم او ته ارحم الراحمين ذات يې. هر څوک چي په ايوب عليه السلام پسي پورته خبري کوي دا په حقيقت کي د يوه نبي سپکاوی دئ ﴿ العياذبالله ﴾

(مولوي عبدالهادي حماد)




## دمکې معظمې دمقدسو ځايونو احصائيه

**ليکوال** : **نويد احمد**

| | | |
|---|---|---|
| د مکې معظمې ښار | د مکې معظمې د ساحې مساحت (الجموم-بحرة-الشعيبة) | ۱۴.۵۰۰ کيلو متره مربع |
| | د شرعي حدودو مساحت | ۵۵۰ کيلو متره مربع |
| | د مرکزي منطقو مساحت | ۶ کيلو متره مربع |
| | د ابادي منطقی مساحت | ۸۸ کيلو متره مربع |
| | نفوس په ۱۴۲۵ هجری (۲۰۰۴) | ۱۳۰۰،۰۰۰ وګړي |
| | د مکې معظمې د ناحيو شمېر | ۶۰ ناحيې |
| | د ثور د غره ارتفاع | ۷۵۰ متره |
| | د حرا د غره ارتفاع | ۶۳۰ متره |
| | د بحر د سطحې څخه ارتفاع | ۲۷۷ متره |
| د مکې معظمې مسجد شريف | د مسجد الحرام مساحت | ۱۰۰،۰۰۰ متره مربع |
| مقدس ځايونه | د مقدسو ځايونو مساحت | ۳۳ کيلو متره مربع |
| | د حجر الاسود اندازه | قطرېې ۳۰ سانتې متره دی |
| | د منیٰ مساحت | ۸ کيلو متره مربع |
| | د مزدلفې مساحت | ۱۲ کيلو متره مربع |
| | د عرفات مساحت | ۱۳ کيلو متره مربع |
| سړکان او تونلونه | د سړکانو اوږدوالی | ۲۰۳۲.۰۰۰ کيلو متره |
| | د تونلونو شمېر | ۲۶ کيلو متره |
| د اوسېدو ځايونه | د قانوني استوګنځيو شمېر | ۳۲۲ استوګنځی |
| | د استوګنې د بلاکونو شمېر | ۲۰۱۷۱۶ |
| | د ګدامونو او د ترميم د دکانونو شمېر | ۲۰ ساحې |

دمکې معظمې د رسمي ويب پاڼې څخه په مننه www.holymakkah.gov.sa

## ستاسو د هغو پوښتونو او د هغو جوابونو ليکلي بڼه کوم چي دتليفون پرکرښه مو کړي او دتعليم الاسلام ولسي راډيو له لاري ستاسو داوازونو سره نشر ته سپارل سوي دي

## ستاسو پوښتونو ته جواب ويونکی : شيخ الحديث مولوي محمد عمر خطابي

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**لومړۍ پوښتنه : د پوښتني کوونکي نوم: نجيب الله**

**۱ سوال: په لمانځه کي يا د لمانځه دباندي پټو تړل د لنګوټي فضيلت لري که نه؟**

۱ **جواب**: الحمد لله رب العالمين و الصلوة و السلام علي رسوله الكريم و علي اله و صحبه اجمعين وبعد :په نني عصر کي چي زموږ او ستاسو په وطن کي د لنګوټې د پاره فاج يا لنګۍ مروج دي دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کي نه وه نو ځکه ضروري نه ده چي د لنګوټې د پاره به خامخا لُنګۍ ، فاج او يا نور مروج ټوکران وي بلکي لنګوټه د هر ډول ټوکر څخه چي د لنګوټې تړلو قابليت او وړتيا ولري تړل کېدای سي، دا که دسمال وي او يا بل ډول ټوکر وي چي د لنګوټې د تړلو وړ وي، نبي کريم صلی الله عليه وسلم چي د مکې د فتح په کال و مکې معظمې ته ورداخل سو توره لنګوټه يې تړلې وه، امام مسلم رحمه الله روايت کوي : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ ژباړه : رسول الله د مکې د فتح په ورځ مکې مکرمې ته بيله احرام څخه ور داخل سو توره لنګوټه يي تړلې وه. ښکاره خبره ده چي کومه لنګوټه چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم تړلې وه هغه د نن زمانې فاج او لنګۍ نه وه بلکي دهغې زمانې يو ټوکر ؤ چي رسول الله صلی الله عليه وسلم د لنګوټې په شکل کار ځيني اخيستی.يو څه نور به هم په دې اړوند اضافه کړو؛ په عالمګيري کي يې راوړي دي: نُدِبَ لُبْسِ السَّوَادِ وَإِرْسَالُ ذَنَبِ الْعِمَامَةِ بَيْنَ الْكَتِفَيْنِ إلَى وَسَطِ الظَّهْرِ ، كَذَا فِي الْكَنْزِ .وَاخْتَلَفُوا فِي مِقْدَارِ مَا يَنْبَغِي مِنْ ذَنَبِ الْعِمَامَةِ مِنْهُمْ مَنْ قَدَّرَ بِشِبْرٍ وَمِنْهُمْ مَنْ قَالَ إلَى وَسَطِ الظَّهْرِ وَمِنْهُمْ مَنْ قَالَ إلَى مَوْضِعِ الْجُلُوسِ ، كَذَا فِي الذَّخِيرَةِ .د متن ژباړه : د توري لنګوټې تړل او د لنګوټې شمله شا ته د ملا تر نيمايي ايله کول ښه کار دی خو په دې کي د علماؤ کرامو اختلاف دی چي د لنګوټې شمله بايد څومره اوږده وي، ځيني وايي چي يوه لوېشت شمله شا ته واړوي، ځيني وايي چي د ملا تر نيمايي پوري شمله شا ته واړوي او ځيني وايي چي دوني اندازه شمله شا ته واړوي، چي کله کښيني نو شمله يې په ځوړند حالت کي تر مځکي ورسيږي .

**۲ سوال: درواغ ويل او بل څوك په درواغو خطاايستل د اسلام له نظره څنګه کار دی؟ د پوښتني کوونکي نوم: عبدالمالك عمران.**

۲ **ځواب**: درواغ ويل د کبيرو ګناهونو له جملې څخه دي . امام بخاري رحمة الله عليه د ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت کوي چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي :(آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ ) د حديث ژباړه : د منافق درې نښي دي ،چي خبري کوي درواغ وايي ، چي وعده وکړي وعده نه پوره کوي چي باور پر وسي امانت ورته کښيښول سي خيانت په کښي کوي . نبي کريم صلی الله عليه وسلم درواغ ويل د منافق له هغو نښو څخه بللي دي چي په هغو نښو سره منافق پيژندل کيږي، او ښکاره خبره ده چي هر هغه صفت چي د منافق وي د هغه معنی داده چي مؤمنان بايد د هغو صفاتو څخه ځان وساتي،ځکه په قرآن کريم او نبوي احاديثو کي چي کوم صفات د منافقينو بلل سوي دي هغه د همدغو صفاتو د غندني او مذمت د پاره ذکر سوي دي څو مسلمانان د همدغو صفاتو څخه ځانونه وژغوري.او د مسلمان ورور خطا ايستل هم ډيره لويه ګناه ده.امام مسلم رحمة الله عليه د ابوهريره رضی الله تعالی عنه څخه روايت کوي : أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى صُبْرَةِ طَعَامٍ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلًا فَقَالَ مَا هَذَا يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ قَالَ أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ أَفَلَا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ كَيْ يَرَاهُ النَّاسُ مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّي ژباړه : وايي رسول الله صلی الله

عليه وسلم د خوراکي موادو د رشې يعني خرې سره تېرېدی، د لاس گوتي يي په رشه ننايستلې گوتي يي لندو خوراکي توکو ته ورسيدې د رشې څښتن ته يي وويل : اې د خوراکې خاونده ! دا څه دي ؟هغه ورته وويل اې د الله رسوله! باران پر سوی دی نبي صلی الله عليه وسلم هغه ته وويل: بيا دي ولي داسي نه کول چي دا کومه رشه چي لنده ده هغه دي راسربيره کړې وای څو خلکو ليدلای چي دا لانده دي دا چي تا لانده لاندي کړي دي او سربيره يې وچ دي دا د مسلمانانو تيرايستل دي، څوک چي نور تيرباسي هغه زما د اُمت څخه نه دی. لندې اوربشي ، جواري يا غنم لاندي کول او سربيره يي وچ غنم ، وربشي او جواري پر اچول نبي عليه السلام د مسلمانانو تيرايستل بللي دي ځکه چي د لندو غنمو وربشو جوارو وزن دروند وي لانده غنم اوربشي جواري يا نور دا ډول حبوبات د وچو په قيمت نه خرڅيږي . ددې حديث څخه دا ثابته سوه چي د مسلمانانو تير ايستل لويه گناه ده او دومره لويه گناه ده چي رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه څوک چي نور مسلمانان په معاملو کي خطا باسي زجرا د خپل اُمت څخه ايستلي دي . نو ځکه ناکاره شی د ښه شي په نامه خرڅول جعلي شی د اصلي شي په نامه خرڅول غش او تېر ايستنه ده مومنان بايد د دا ډول ناوړو او منافقانه صفاتو څخه ځانونه ليري وساتي .موږ او تاسو وينو چي په بازارونو کي ډير دا ډول شيان خرڅيږي چي په هغو کي د غش او خيانت څخه کار اخيستل کيږي .مثلاً ځني کسان مېوې په کرېټو او سودو کي په دا ډول مهارت اوډي چي رانيونکي پر خوله غورځوي څوک چي د کريټ او سودې د سر و کتار ته وگوري ډېره ښه ميوه او په زړه پوري ميوه ورته ښکاري خو څه مهال چي په کور کي کريټ را چپه کړي لاندي داسي ميوه وي چي هغه بيخي د خوراک هم نه وي .دا غش او تيرايستنه په دواو ، غوښو ، ټوکرانو او هر ډول کاروبار کي په بيلو بيلو شکلونو ليدل کيږي څوک تقلبي شيان په اصلي شيانو خرڅوي څوک په کم وزن او پيمانه شی ورتلي . الله جل جلا له دي هر مسلمان ته دا توفيق ورکړي چي د دراوغو او د نورو مسلمانانو د خطاايستلو څخه لاس واخلي .

۳ **سوال**: **که په څلور رکعتيز لمانځه کی د چا څخه اوله ناسته په هيره پاته سی نو لمانځه ته يې څه تاوان لری؟ د پوښتني کوونکي نوم: حاجی محمد**

۳ **جواب**: په لمانځه کی اوله ناسته د واجباتو څخه ده نو که څوک په سهوه په اوله ناسته کی نه کښيني دريم رکعت ته ولاړسی په دې گمان چی دا يی دوهم رکعت دی نو حکم دادی که چيری د ولاړيدو په حالت کی و ناستی ته نژدی وی ناسته يي ورياد سی بايد کښينی التحيات ووايی او وروسته د الله اکبر په ويلو دريم رکعت ته ولاړسی په دې صورت کي د سهوي سجده هم نه پر لازميږي .او که بيخي ودريږي او يا ولاړی ته نژدې وي اوله ناسته يي ور ياد سي بيا دی پسی ودريږی دريم او څلورم رکعت دي پسي پوره کړي د لمانځه په اخيره کی دي د سهوي سجده وکړی .که لمونځ درې رکعتيزه ؤ د همدغه رکعت د دوهمي سجدې وروسته دي کښيني التحيات دي ووايي او که څلور رکعتيزه ؤ يو بل رکعت دي هم پسي وکړي د څلورم رکعت د دوهمي سجدې وروسته دي کښيني التحيات دي ووايي د التحيات د ويلو وروسته دي يوازي راسته خوا ته سلام وگرځوي بيا دي الله اکبر ووايي سجدې ته دي ولاړسي درې واره دي تسبيحات ووايی بيا دي د الله اکبر په ويلو د سجدې څخه راپورته سي په ناسته کي د ارام نيولو څخه وروسته دي د الله اکبر په ويلو دوهمي سجدې ته ولاړ سي د دوهمي سجدی څخه وروسته دي کښيني التحيات ، درود يعني اللهم صل او اللهم بارک او بيا دي اللهم ربنا يا بله دعا ووايي د دعا وروسته دي دواړو خواو ته سلام وگرځوي .

۴ **سوال**: **د څلور رکعتيزه لمانځه په اوله ناسته کی د التحياتي يعني تر عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهْ اضافه بل څه ويل سجده سهوه لازموی که يا ؟**

**د پوښتني کوونکي نوم: حليم حيران**

۴ **جواب**: په عالمگيری که يی دا مسئله داسي ذکر کړيده وايی که څوک په اوله ناسته کی په سهوه باندی التحيات تکرار کړی يعنی دوهم ځلی يی بيا شروع کړی نو د لمانځه په اخيره کی به د سهوي سجده کوي . او که چيری د التحيات وروسته په دې گمان چي دا يي اخره ناسته ده درود شروع کړی په دې مسئله کی چه په څومره اندازه څنډ او درود ويلو د سهوي سجده لازميږي زمونږ د علماؤ اختلاف دی ځنی علماء وايی که څوک د عبده ورسوله څخه وروسته اللهم صل علی محمد په هيره ووايی نو هغه دي د لمانځه په اخيره کي د سهوي سجده وکړي . او ځنی وايی که اللهم صل علی محمد و علی آل محمد ووايی هلته بيا د سهوي سجده لازميږی.زمونږ علماء کرام چي په

اوله ناسته کي تر تشهد يعني تر التحياتي وروسته په سهوه د درود په ويلو د سهوي سجده لازمه گڼي د هغه وجه دا ده چي د رسول الله څخه د اولي ناستي اندازه فقط د التحياتي د ويلو په اندازه رانقل سوې ده که څوک تر همدغه مقدار زياد په سهوه کښيني نو بايد د سهوي سجده وکړي .

**۵ سوال: ږيره خريل په اسلام کي څه حکم لري؟**

**د پوښتني کوونکي نوم: فضل محمد**

۵ **جواب**: ږيره خريل حرامه ده او د ټولو انبياؤ عليهم السلام د تگ لاري څخه مخالفت دی .نبي کريم صلی الله عليه وسلم لس شيان د فطرت د شيانو څخه بللي دي، يعني هغه دا ډول کارونه دي چي د شريعت د حکم څخه علاوه انساني جوړ طبيعت يي هم د کولو تقاضا او غوښتنه کوي په دغو لسو کارونو کي يو د ږيري غټول او بل د بريتونو کوچني کول دي ،د آدم عليه السلام څخه نيولې بيا تر محمد صلی الله عليه وسلم پوري چي څوني پيغمبران او رسولان د الله د لوري راغلي دي ټول د سليم فطرت څښتنان وه هغوی ږيري لرلې .

او ددې د پاره موږ قرآني آيت هم ثبوت لرو، کله چي موسی عليه السلام د طور غره ته تللی ؤ او د الله جل جلاله لخوا څخه تورات ورکول سو، دده قوم د ګيلګي عبادت شروع کړ او دده ورور هارون عليه السلام هغوی منع کول خو هغو د هارون عليه السلام په قول نه کول، کله چي موسی عليه السلام د طور د غره له خوا را ستون سو په خپلو سترگو يې وليدل چي دده قوم د ګيلګي عبادت شروع کړی دی د ډير درد او غضب څخه يي خپل ورور هارون عليه السلام تر سر او ږيره ونيوه الله يي حکايت داسي کوي : قَالَ يَا ابْنَ أُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلَا بِرَأْسِي .. ۹۴ طه ژباړه : هارون عليه السلام موسي ته وويل : اې زما د مور زويه ! ما تر سر او ږيره مه نيسه . د ږيرو خريل د مشرکانو عادت ؤ نو ځکه نبي عليه السلام د هغوی څخه په دې عمل کي د مخالفت کولو حکم کړی دی :امام بخاري د ابن عمر څخه روايت کوي : عَنْ ابْنِ عُمَرعَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : خَالِفُوا الْمُشْرِكِينَ وَفِّرُوا اللِّحَى وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ .ژباړۀ : تاسو د مشرکانو څخه مخالفت کوئ ږيري مو غټوئ او بريتونه مو کوچني کوئ . د مؤمنانو د پاره په کار ده چي په رسول الله صلی الله عليه وسلم او هم نورو انبياؤ پسي اقتداء وکړي الله جل جلا له فرمايي: لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ط (الآية) ژباړه : حقيقتا ستاسو دپاره په نبي محمد عليه السلام کي ډير ښه د اقتدا وړ صفات دي، د رسول الله صلی الله عليه وسلم هر صفت د اقتدا وړدی او مؤمنان بايد په هغه پسي اقتدا وکړي، ږيره پريښول د انبياؤ عليهم السلام مسنونه طريقه ده بلکي واجبي حکم دی چي هر مسلمان بايد ږيره پريږدي او بريتونه کوچني کړي .

**۶ سوال: د ښځو د مياشتانه مريضۍ او د ولادت په وخت کي لمونځونه څنګه کيږي، آيا راګرځول غواړي او که نه؟**

**د پوښتني کوونکي نوم: فضل محمد**

۶ **جواب**: کومه مريضي چي په ځانګړي ډول و ښځو ته پيښيږي هغه يوه مياشتنۍ ناروغي ده چي د حيض په نامه ياديږي او بله هغه مريضي ده چي د لنګون وروسته ورته پيښيږي د نفاس په نامه ياديږي، د حيض او نفاس سره ډېر شرعي حکمونه تړلي دي مثلا ښځي ددغو مريضيو يعني حيض او نفاس په حالت کي لمونځونه نه کوي ، روژې نه نيسي، خو د روژو قضاء به راګرځوي البته د لمونځو قضاء باندي نسته، امام مسلم رحمه الله د معاذې څخه روايت کوي

عَنْ مُعَاذَةَ أَنَّ امْرَأَةً سَأَلَتْ عَائِشَةَ فَقَالَتْ أَتَقْضِي إِحْدَانَا الصَّلَاةَ أَيَّامَ مَحِيضِهَا فَقَالَتْ عَائِشَةُ أَحَرُورِيَّةٌ أَنْتِ قَدْ كَانَتْ إِحْدَانَا تَحِيضُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ لَا تُؤْمَرُ بِقَضَاءٍ وايي يوې ښځي د عايشې رضي الله عنها څخه وپوښتل : ايا موږ يوه به د حيض د ورځو د لمونځو قضاء راګرځوو ؟عايشې ورته وويل : ايا ته خوارجي يې ؟ موږ ته د رسول الله صلي الله عليه و سلم په زمانه کي حيض پيښيده خو د لمونځو د قضاء راوړولو حکم د رسول الله لخوا نه راته کيدی .نو ښځي چي د مياشنۍ ناروغۍ او هم د لنګون وروسته ناروغيو کي لمونځونه نه کوي د هغو قضاء هم باندي نسته البته په دغو ناروغيو کي چي يي روژې خوړلي دي د هغو قضا به راګرځوي د ښځو دا مياشتنۍ مريضۍ او د لنګون وروسته چي کومه مريضۍ ورته پيښيږی د هغو سره ډير نورشرعي حکمونه هم تړلي دي چي د هغو د جملې څخه يو هم دادی چي دوی ددې مريضۍ په وخت کي مسجد ته نه سي ننوتلای، نو ځکه کومي ښځي چي په حج او عمره کي وي، دوی مسجد حرام ته نه سي ننوتلای او طواف هم نه سي کولای ځکه چي طواف دننه په مسجد حرام کي پر کعبه شريفه باندي کيږي، همدارنګه ددې مريضۍ په وخت کي ښځي ومسجدِ نبوي ته هم نه سي ننوتلای تر هغه وخته به انتظار باسي څو چي دا مريضي يې

ختمیږي.ددې مرضیو بل حکم دادی چي د قرآنکریم تلاوت نه سي کولای، قرآني آیتونه به نه تلاوتوي، البته د قرآن کریم څخه ماسِوا نور هر ډول ذکرونه کولای سي د مثال په ډول کلمه ویلای سي، د تبرک دپاره بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيْمْ ویلای سي ، سَبْحَانَ الله، اَلْحَمْدُ لله، اَللهُ اَكْبَرْ او داسي نور بی شماره ذکرونه کولای سي. د حیض او نفاس بل حکم دا دی چي جماع کول هم ورته حرامیږي

۷ **سوال**: **مسواك اول واري چا وواهه؟**

**د پوښتني کوونکي نوم**: **مروان احمد**

**جواب**: د دغي پوښتني پرځای باید داسي سوال سوی وای چي مسواک څه حکم لري او څه فایدې لري، او هر مسلمان ورورته په کار ده چي دا ډول سوال وکړي چي د هغه سره یو شرعي حکم تړلی وي او د داسي پوښتنو څخه ډډه وکړي چي دهغه سره شرعي حکم ارتباط نه لري ځکه موږباید د هر څه وړاندي په هغو مسأیلو ځانونه پوه اوخبر کړو چي مونږ په هغه مکلف یوو ، دا بې ځایه او بې معنی پوښتني کول د بنواسرأیلو طریقه وه او دهمدغو بې ځایه او بې معنا پوښتنو له کبله هغوي د مشقت اوسختۍ سره مخامخ سول. د بنو اسرأیلو کیسه ډېره مشهوره ده کوم چي په قران کریم کي راغلي ده چي په دوی کي یو نفر ووژل سو د هغه د قاتل دمعلوُمولو لپاره دوی د موسی علیه السلام څخه مُطالبه وکړه چي د الله جل جلاله څخه سوال وکړي او د دوی قاتل ورته وښوي نو د الله جل جلا له خوا حُکم ورته وسو چي یوغوا یاغوایی حلال کړئ او د هغه په یوه ټوټه بیا مقتول ووهي ، مقتول به راژوندی سي، خپل قاتل به درته وښیي. دوی چي هر ډول غوا یا غوایی حلال کړې وای په هغه به یي مشکل حل سوی وای ځکه چي د غوا یا غوایي په حلالولو کي کوم قید او شرط نه ورته ایښودل سوی إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَذْبَحُوا بَقَرَةً ژباړه : الله تاسو ته امر کوي چي تاسو یوه غوا یا غوایي حلال کړی .خو دوی بې ځایه پوښتني را پورته کړلې ویل یي : ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَا هِيَ ته خپل رب ته زمونږ د پاره دعا وکړه چي د څه عمر غوا یا غوایي دی ؟بیا یي ویل : مَا لَوْنُهَا څه رنګ یي دی ؟بیا یي ویل : مَا هِيَ څرنګه غوا یا غوایي دی څه کار ځني اخیستل کیږي ؟دوی په خپله پر خپلو ځانونو سختي راوستل بي ځایه پوښتني یي کولي د بي ځایه پوښتونو لکبله یو یو شرط ورته اضافه کیدی اِمامِ ترمذی رحمه الله تعالی دعلي ابن ابی طالب ssقَالَ لَمَّا نَزَلَتْ{ وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنْ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا }قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفِي كُلِّ عَامٍ فَسَكَتَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ فِي كُلِّ عَامٍ قَالَ لَا وَلَوْ قُلْتُ نَعَمْ لَوَجَبَتْ فَأَنْزَلَ اللَّهُ{ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ }

ژباړه : څه وخت چي دا آیت نازل سو: وَ لِلّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَعَ اِلَيْهِ سَبِيْلاً ط (الآية) ژباړه: د الله جل جلاله د پاره پرخلګو یعني پر هغو کسانو چي حج ته د تګ لاري وسع او توان لري د کعبې شریفي حج فرض دی . صحابه کرامو وویل : اې د الله رسوله ! ایا په هر کال کي حج فرض دی ؟رسول جواب ور نه کړ هغو بیا پوښتنه وکړله اې د الله رسوله ! ایا په هر کال کي حج فرض دی ؟رسول الله ورته وویل : یا ، خو که درته ووایم هو نو هر کال به در باندي فرض سي .نو الله دا ایت نازل کړی : ژباړه : اې مومنانو ! د دا ډول شیانو پوښتنه مه کوئ که یي حکم درته څرګند سي بیا به مو زوروي .نو زه دا ورور ته وایم چي زموږ لپاره په دې پوهېدل ضروري نه دي چي اول مسو اک چا وهلی دی ؟ بلکي موږ باید په هغو مسأیلو ځانونه پوه کړو چي موږ اړتیاورته لرو که سوال دا ډول وسي چي مسواک څه حُکم او څه ګټه لري؟ نو ډېره پر ځای پوښتنه به وي او جواب یي په لنډو الفاظو کي داسي دی امام بخاري د عایشې رضي الله عنها څخه روایت کوي وایي رسول الله فرمایلي دي :السِّوَاكُ مَطْهَرَةٌ لِلْفَمِ مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ ژباړه: په مسواک وهلو د خولې پاکي او د رب رضا حاصل کیږي یعني په مسواک وهلو د مسلمان خوله پاکه کیږي او هم رب ځني په راضي کیږي ، دا دواړي ډېري لویي ګټې دي ځکه مسلمان د نورو کسانو سره ناسته ولاړه کوي، که د چا د خولې بد بوی ځي نو د هغه د بد بوی څخه نور مسلمانان زورول کیږي نو ځکه مسلمان باید خوله تل پاکه اوصفا وساتي او بل هر څه خواړه چي معدې ته ځي هغه ټول د خولي له لاري څخه ځي، نو په صِحي او طبې لحاظ هم باید خوله پاکه وساتل سي په څومره اندازه چي خوله پاکه وي په هغه اندازه به سړی روغ او جوړ وي او تر ټولو لویه خبره داده چي مسواک وهل یو داسي ښه عمل دی چي خپل رب د چا څخه په راضي کیږي د رب رضا تر هر شي ډېره مهمه خبره او ډېر عظیم نعمت دی .

۸ **سوال**: **په اسلام کي اوله روژه چانیولې ده؟**

**د پو ښتني کوونکي نوم** : **حاجي مختار احمد**

**جواب**: دا هم د مخکنۍ پوښتني په شان ده ددې پوښتني سره کوم شرعي حُکم تړاو نه لري ، کوم څه چي مونږ اړتيا ورته لرو هغه دا دي چي د روژې د فضيلت په هکله معلومات را ته حاصل شي ، د روژې په احکامو ځانونه خبر کړو، خو دوني ويلای سو چي روژه يوازي پردې اُمت فرض سوې نه ده بلکي پر مخکنيو اُمتونو هم روژه فرض وه ، البته د کيفيت او څرنګوالي له مخي به څه تفاوت د يوه او بل اُمت د روژو تر منځ ؤ. الله جل جلاله په سورة بقرة کي فرمايلي دي: يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامَ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ط (الآية) ژباړه: اې مومنانو پر تاسو باندي روژه فرض سوې ده لکه څرنګه چي له تاسو څخه وړاندي پرمخکنيو اُمتونو روژه فرض سوې وه ، ښايي تاسي د روژې په نيولو د ګناهونو او معصيت څخه ځانونه وساتی .نو روژه يوازي پر دې اُمت نه ده فرض سوې بلکي پر مخکنيو ټولو اُمتونو د روژې فريضه وه البته په دي کي يې فرق درلود چي د څه وخت څخه بيا تر څه وخت پوري نيول کېدله، څه ډول احکام يې درلودل او په کومو ورځو کي نيول کېدل .

۹ **سوال**: **که څوک پر لمانځه ولاړ وي، پر څنب يې کوچنی ورسره ولاړ وي او د هغه کالي مردار وي نو دده لمانځه ته خو به کوم تاوان نه رسوي؟ د پوښتني کوونکي نوم**: **مطيع الله**

**جواب**: که د لمانځه کوونکي خپلي جامې پاکي وي هغه ته د بل چا د کالو نجاست کوم تاوان نه رسوي ، البته که د امام جامې ناپاکي او مرداري وې نو د مقتديانو لمونځونه هم نه صحيح کيږي ځکه د امام د لمانځه په فاسد کيدلو د مقتديانو لمونځونه هم فاسد کيږي البته د مقتدي د لمانځه په فساد د امام لمونځ نه فاسد کيږي .

۱۰ **سوال**: **که د چا څخه په لمانځه کي واجب پاته سي نو حکم يې څه دی؟ د پوښتني کوونکي نوم**: **بشير احمد**

**جواب**: که د چا څخه په لمانځه کي په سهوه واجب پاته سي سجده سهوه پر لازميږي ، او که څوک په لمانځه کي قصداً واجب پرېږدي او يا په سهوه کی واجب ترې پاته سي خو د سهوي سجده ونه کړي پر هغه هم ددې لمانځه راګرځول واجب کيږي.متفق عليه حديث د ابوهريرة څخه را نقل سوی دی أَنَّ رَجُلًا دَخَلَ الْمَسْجِدَ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ فِي نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ فَصَلَّى ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْكَ السَّلَامُ ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ فَرَجَعَ فَصَلَّى ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ فَقَالَ وَعَلَيْكَ السَّلَامُ فَارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ فَقَالَ فِي الثَّانِيَةِ أَوْ فِي الَّتِي بَعْدَهَا عَلِّمْنِي يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَأَسْبِغْ الْوُضُوءَ ثُمَّ اسْتَقْبِلْ الْقِبْلَةَ فَكَبِّرْ ثُمَّ اقْرَأْ بِمَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنْ الْقُرْآنِ ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَسْتَوِيَ قَائِمًا ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا ثُمَّ افْعَلْ ذَلِكَ فِي صَلَاتِكَ كُلِّهَاوَقَالَ أَبُو أُسَامَةَ فِي الْأَخِيرِ حَتَّى تَسْتَوِيَ قَائِمًا( و اللفظ للبخاري )

ژباړه : ابوهريرة وايي يو سړی نبوي مسجد ته ننوت رسول الله صلي الله عليه و سلم هلته يو طرف ته ناست ؤ دې سړي لمونځ وکړی بيا راغی رسول الله ته يي سلام واچاوه رسول الله سلام ور بيا کړ او ور ته ويې ويل بيرته ولاړ سه لمونځ دي وکړه ځکه چي تا لمونځ په صيح ډول و نه کړ ، سړی ولاړی لمونځ وکړ بيرته راغی سلام يي واچاوه ، رسول الله ورته وويل و عليک السلام بيرته ولاړ سه لمونځ دي وکړه ځکه تا لمونځ و نه کړی ، دې سړي په دوهم ځل يا د هغه وروسته ورته وويل : اې د الله رسوله ! ته لمونځ را وښووه .رسول الله ورته وويل : څه وخت چي لمانځه ته ولاړيږې نو په بشپړ ډول اودس تازه کړه بيا قبلې ته مخامخ و دريږه الله اکبر ووايه ، بيا چي د قرآن د کوم ځای ويل درته اسان وي هغه تلاوت کړه ، بيا رکوع وکړه تر څو چي په رکوع کي ښه ارام ونيسې ، بيا د رکوع څخه را پورته سه تر څو په ولاړي کي سيده ودريږې د هغه وروسته سجده وکړه په سجده کي چي ارام ونيسې بيا د سجدې څخه را پورته سه تر څو چي په ناسته کي ښه ارام ونيسې بيا دوهمه سجده وکړه څو په سجده کي ښه ارام ونيسې بيا د سجدې څخه را پورته سه څو په ناسته کي ارام ونيسې همدا ډول د لمانځه په ټولو رکعتونو کي وکړه ابواسامه د دوهمي سجدې وروسته د رسول الله وينا داسي را نقل کړي ده : د دوهمي سجدې څخه را پورته سه څو په ولاړي سيده ودريږې . د ژباړي پای . په رکوع او سجده کي تعديل او هم قومه او جلسه په اطمنان کول د راجح قول له مخي د لمانځه د واجباتو څخه دي نو دا حديث ددې دليل دی چي د واجبو په پريښولو د لمانځه راګرځول واجب کيږي .البته په دغه لمانځه کي داسي څوک اقتداء نسي پسي کولای چي هغه لمونځ نه راګرځوي بلکي همدا يي د وخت لومړی اداء وي ځکه ددغه کس فرضي لمونځ هغه اول لمونځ دی دا اعاده د هغه د نقص د جبران د پاره ده رد المحتار : وَبِالْأَوَّلِ يَخْرُجُ عَنْ الْعُهْدَةِ ، وَإِنْ كَانَ عَلَى وَجْهِ الْكَرَاهَةِ عَلَى الْأَصَحِّ فَالْفِعْلُ الثَّانِي بِمَنْزِلَةِ الْجَبْرِ كَالْجَبْرِ بِسُجُودِ السَّهْوِ .د متن ژباړه : د اصح قول له

مخې په اول لمانځه د لمونځ کونکي ذمه فارغه کيږي که څه هم هغه اول لمونځ يې د تحريمي کراهيت سره اداء کړی دی دا دوهم ځل د لمانځه راګرځول يې د سهوي د سجدې په شان د جبران د پاره دي. لهذا په کوم لمانځه کې چې واجب قصداً څوک پرېږدي هغه لمونځ بايد وجوباً او حتمي راوګرځوي، دغه ډول که څوک په سهوه کې واجب پرېږدي خو سجده سهوه ونه کړي، لمونځ ختم کړي، نو ددغه لمانځه راګرځول هم پر ده باندي واجب دي.

و الله اعلم بالصواب وعنده ام الکتاب

## د تعليم الاسلام ولسي راډيو دخپرونو لنډه پېژندنه

**ترجمه او تفسير:**
په دې خپرونه کې دقرآن کريم ترجمه او تفسير په تدريسي ډول درس کيږي او بې شميره اورېدونکي يې د کتاب له مخې تعقيبوي او دا خپرونه د سهار له خوا په ژوندۍ بڼه په اوونۍ کې پنځه ورځې د شنبې څخه تر چهارشنبې پوري خپريږي او تکرار يې په همدا ورځو د ماخستن پر اتوو بجو او ديرشو دقيقو نشر ته سپارل کيږي

**نبوي احاديث:**
په دې خپرونه کې د احاديثو مشهور کتاب مشکوة المصابيح په تدريسي ډول درس کيږي دا خپرونه هم د شنبې د ورځې څخه بيا تر چهارشنبې پوري په اوونۍ کې پنځه ورځې د سهار لخوا په ژوندۍ بڼه او تکرار يې په همدغو ورځو کې د شپې پر نهو بجو او ديرشو دقيقو نشر ته سپارل کيږي.

**فقهي معلومات:**
په دې خپرونه کې په تدريسي ډول فقهي هر اړخيزه معلومات لکه نکاح معاملات او داسې نور خپريږي دا خپرونه د سهار لخوا پر نهو بجو په ژوندۍ بڼه او تکرار يې د ماښام د لمانځه وروسته نشر ته سپارل کيږي.

**دهر کور مدرسه:**
په دې خپرونه کې د متوسطه شاګردانو لپاره د عقيدې، احکامو اخلاقو، د عربي ژبې العربية بين يديک سلسلة او قرآن کريم په تلاوت تدريس کيږي دا خپرونه د سهار پر لسو بجو شروع کيږي او بيا تر دولسو بجو دوام کوي.

**د منبر آواز:** په دې خپرونه کې د علماء کرامو مختلف تقارير او نصيحتونه نشر ته سپارل کيږي دا خپرونه د ماپښين پر دوو بجو په اونۍ کې پنځه ورځې نشر ته سپارل کيږي.

**علمي مباحثې:**
په دې خپرونه کې د علماء کرامو او روڼ اندو سره پر مختلفو موضوع ګانو باندي مرکې کيږي چې دا خپرونه هم تعليمي بڼه لري دا خپرونه په اونۍ کې پنځه ورځې نشريږي.

**منتخب احاديث:**
په دې خپرونه کې د منتخب او چونړ سوو احاديثو متنونه او ژباړې په ژوندۍ بڼه د ماخستن د اذان وروسته د شنبې څخه بيا تر چهار شنبې په اونۍ کې پنځه ورځې د تعليم الاسلام ولسي راډيو څخه خپريږي.

**ورځنۍ وظيفه:**
په دې خپرونه کې د شنبې څخه بيا تر چهارشنبې پوري هره ورځ د سهارنۍ خپروني په پيل کې نيمه نيمه پاره تلاوت خپريږي تلاوت رکوع په رکوع اورېدونکو ته ښودل کيږي اورېدونکي د قران له مخې تلاوت ورسره لولي.

**مختلف قراء:**
په دې خپرونه کې د مختلفو قاريانو په ږغ کې يوه يوه رکوع تلاوت د نيم ساعت لپاره د پنجشنې او د جمعې په سهار کې نشر ته سپارل کيږي.

**زه ولې مسلمان سوم ؟**
په دې خپرونه کې هغه رښتني کيسې نشر ته سپارل کيږي چې د يو داسې چا په هکله وي چې تېر عمر يې په کفر، شرک او تورو تيارو کې تېر سوی وي خو وروسته ورته الله جل جلاله هدايت کړی وي او د اسلام سپېڅلی دين ئې قبول کړی وي دا خپرونه هره پنجشنبه د ماپښين پر درو بجو او د جمعې په ورځ د سهار پر اوو بجو نشر ته سپارل کيږي.

**شرعي پوښتني او دهغوی جوابونه** :
په دې خپرونه کي د اورېدونکو د تليفون د لاري سوي شرعي پوښتني جوابيږي د دې پوښتنو جوابونه د هري پنجشنبې او د جمعې په ورځو کي د سهار لخوا پر اتو بجو او تکرار يې د ماخستن پر نهو بجو او پنځه څلويښتو دقيقو نشرته سپارل کيږي.

**نبوي سيرت**:
په دې خپرونه کي د نبي ﷺ د مبارک ژوند کيسې خپريږي چي دا خپرونه هم هره دپنجشنبې او جمعې په ورځ د ماپښين پر دوو بجو نشرته سپارل کيږي .

**پيام منبر**:
په دې خپرونه کي په دري ژبه علمي موضوع ګاني د هري پنجشنبې او د جمعې په ورځ د مازديګر او ماښام تر منځ نشريږي .

**د ليکونو ډالۍ**:
په دې خپرونه کي د اورېدونکو لخوا رالېږل سوي ليکونه ورته خپريږي او د ليک دود اړوند لازمي لارښوني د ليکونو د ډالۍ د ميلمه لخوا په ژوندۍ بڼه ورته کيږي .

**د اوريدونکو سره ليده کاته** :
په دې خپرونه کي د اوريدونکو سره سوي هغه خبري اتري او د زړه خواله نشر ته سپارل کيږي چي د تعليم الاسلام ولسي راډيو د همکارانو لخوا د هغوی سره د ليدو کاتو په مهال ترتيب سوي وي په دې خپرونه کي د اوريدونکو لخوا غوښتل سوي نعتونه او ترانې هم خپريږي دا خپرونه په اوونۍ کي پنځه ورځي د مازيګر پر څلورو بجو خپريږي .

**نبوي ملغلري** :په دې خپرونه کي د پاک رسول ﷺ ارشادات د ژباړي سره يو ځای خپريږي او په وقفو وقفو کي يې نعتونه او ترانې هم نشريږي دا خپرونه د شنبې څخه تر چهارشنبې د مازيګر او ماښام تر منځ او د پنجشنبې او د جمعې په ورځو کي بيا پر څلورو بجو اوريدلای سی

**دارالقراء**:
په دې خپرونه کي يو قاري د مېلمه په توګه ستهډيو ته راغوښتل کيږي او اورېدونکي په ژوندۍ بڼه د تليفون د لياري خپل تلاوت کوي او نوموړی قاري د تجويد او تلاوت اړوند لارښونه او هدايت ورته کوي دا خپرونه هره پنجشنبه د شپې پر اتو بجو او ديرشو دقيقو پيل کيږي .

**تنکي فکرونه**:
دا خپرونه کوچنيانو ته ځانګړې سوې ده چې کو چنيان ورته تليفون کوي او د دوی څخه د تليفون له لياري ډول، ډول سوالونه کيږي او تنکي ماشومان د پوښتونو جوابونه ورکوي د صحيح جواب ورکولو په صورت کي جايزې ورکول کيږي دا خپرونه تعليمي او اصلاحي بڼه لري او د ماشومانو د علمي کچي او استعدادونو د ودي ګټوره خپرونه ده.

**د علم په سيالۍ کي د جايزو ګټونکي**:
دا خپرونه د اورېدونکو د علمي سوې د لوړولو په موخه ترتيب سوېده چي په دې خپرونه کي د اورېدونکو څخه ډول، ډول ديني، علمي، معلوماتي او داسي نور سوالونه کيږي چې د اورېدونکو له خوا به په ژوندۍ بڼه جوابيږي چې په پايله کې و هر ګټونکي ته د تعليم الاسلام ولسي راډيو لخوا جايزې ورکول کيږي دا خپرونه هره پنچشبه د ماښام او ماخستن تر منځ نشرته سپارل کيږي.

**ستاسو نظر او استدلال**:
په دې خپرونه کي د تعليم الاسلام ولسي راډيو لخوا يوه موضوع ټاکل کيږي بيا ستاسو درنو اورېدونو نظرونه پر اخستل کيږي داخپرونه د تعليم الاسلام ولسي راډيو لخوا د پنجشنبې د سهار په يوولسو بجو او د شنبې په شپه دماخستن پر اتوو بجو او ديرشو دقيقو په ژوندۍ بڼه نشر ته سپارل کيږي .

**د لمونځو وختونه** : دا خپرونه اورېدونکو ته د کندهارښار او شاوخوا سيمو لپاره د لمونځو وختونه ښيې.




که غواړۍ چي خپلو تجارتي توکواوخدماتوته ښه بازاراوشهرت ورکړی او هم یوه لویه اسلامي
تعلیمي اداره داقتصاد له پلوه تقویه اوپیاوړې کړی نوخپل ږغیزاولیکني اعلانونه دتعلیم الاسلام
ولسي راډیو اوداسلامي لارښوونه مجلي څخه نشر اوخپاره کړی .
0786786434
اسلامي لارښوونه
دتعلیم الاسلام ولسي راډیو دانګړ،دهلیز،دفتر،اوستیډیوانځرونه